او زدکړې دوخت ملګری ـ زما د پوهنتون د دورې اندیوال زما
د فټبال ملګرتیا د مهال آشنا.

ده وخندل ـ زهر جنه خندا ؛ ما ته دهغه خندا داسې ښکاره
شوه لکه چې په ما پورې خاندي ـ زما په هغه انتظار او تلوسو
پورې زما په هیلو او ځوانیمرګه ارمانو پورې ګنې ټوکې وکړې
او خوښې پاته شه وو.

دی لکه چې زما په انګیرنه او احساس پوه شوی او زما پخبره
کې دا هر څه لوستي وي وویل: وګوره مورې څه غوښتې: لیک
ته مې لاس کړ د مورلې خولې یې لیکل شوی و... زویه ستا
دې قسم وی که خلقي وې نو مونږ ته د خپلې حرامې تنخوا نه نور
سودا او پیسې راونه لیږې.

ما ته داسې ښکاره شوه لکه چې هغه هم زمونږ پر حال کت کت
خاندي او په مونږ پورې ملنډې وهي.

که څنګه؟

یو شـــن شـو چې کوښتې ته راننوت او یوه ستغه -
دوه وزه پورته شوه د عطرو دغه توند بوی د شولو پوزې —
وسولولې او وې پرځولې - په کوټه کې ناست کسان په دوو پښـو
ودریدل او په یوه شیبه کې چې لاسـتری مشی نه وو خلاص
شوی هغه وراندې د غټې تکیې ځای ده ته خوښې کړې شـو -
دې هم داسې پرې او روغور پـد لکه چې قواله یې نغده په جیب
کې پرته وي .

څو لحظې یوې معنی داره چوپتیا او سکوت په کوټه خپل
حکم وچلاوه . ده شا وخوا وکتل لکه چې د ځان د خبرو او پوښتنې
په معیار برابر څوک یې نه وي مونـدلی همدغسې چوپ -
پاتې شـو .

د دسـترخوان تر غوړیـدو همدا چوپتیا حاکمه وه . دوه

کښنودل شوه ، ده یوځل سر سري دستر خوان ته وکتل لکه چې هیڅ خیال یې نه وي پرې راغلی او هغه څه یې نه وي پکې لیدلی چې دده معده ورسره عادت ده ، لږه شیبه یې په ستر کو کې د نارضایت غښتې واو بښتې را واو بښتی لکه چې خپله ورکه یې نه وي موندلی ؛ بنه ځیر شو د وریژو غوری ته یې کوته ونیوه ، معنا یې داوه چې د ده له مخې دې ایسته شی - د غورمې لوښی ته یې د اشارې څه معمولي حرکت وکړ - خو داسې معلومه شوه چې پدې یې هم زړه خور نه شو - لږه شیبه چوپ پاتې شو ، کوندی څوک ترې د نه خور لو پوښتنه او عذر وکړي خو معلومه شوه چې هیڅوا هم د دواړو کستا نې جرئت ونشوای کولی دلته وه چې د ه یخپلو خصوصو او آهنګ دا وخبرو کوربه ته ستر کې وکړ ولی اما ته د چرګ له هغې غورمې - څه - دسینې برخه علاحده تیاره کړی . . . .

د ده په نظر کې که غوښه ورته نو هغه د چرګ غوښه وه او که څوک غوښه خوري او چوي نو هغه دې حتماً چرګ وي - ځکه خو ده دلته هم بنایي داخیال کړی وي چې غورمه به حتماً د چرګ وي .

د ده زړه داچې هرې منله چې مسافري ده ، مهاجرت دی ، بې کوري ده او دربدري . . . . دښادی په دغه نسبتاً ستر محفل

کې چې له کوربه وار پار خطا وې د چرګ په سینه پسې دوو
دریو تنو یوبل ته اشاري وکړې خدای خبر، هغوی به
څه سوچ کړی وي چې اوس لا د چرګ غومه او بیا یې سینه
له کومه کړي، تیری لا چې ده پخپله خوله غوښتې وه او
افغانان خو مبلمه ته د زړه دغوښو په ورکړه هم د ریغه نه کوي

څه خبر چې چا به ورته ویلی وي چې هله له هغه نړۍ
هوتل څخه یو خوراک ورته راوځغلوي.

هغوی په داسې انداز کې چې د نسبي اطمینان او-
مبلمه پالنې پر احساس قناعت بخښونکی سپږغی یې له
ستړکو یا د بدل. لوښې د ده مخ ته کښنود او د ده په څېړه کې
د خوښۍ په خښنو پسې یې ده ته ژور ژور وکتل، خو چې ده
څنګه د دوړی په یوه ورې ټوټه د غوښې یوه خاشه را بله او خولې
ته کړه، نو ستړکې یې د اسې راوایستلی لکه چې چا په کولې
ویشتلی وي. تا به ویل چې له آسمانه ټندر یې را پر بوت که
څنګه؟ قاب ته یې یوه قهرجنه ټپله ورکړه، په دستر خوان
د غورې له تویېدو سره څه نا آشنا نقشې او بې له شرحې
کار یکاتورونه وکښل شول. کوربه په ډېر ادب چې له پخوازیات

بې وسه اوپيکه معلومېده وويل لکه چې مورچکی پکې وېرو، خو
يوه ځوان وېښ ژړدغوښې دغوږې لوښی په هماغسې غوسه
کې دده مخې ته کېښود اوله ځان سره وغورمېده... پدې وخت
کې دروازه ټکېرته شوه څوماشومان دغه دکې کوټې ته راننوتل
دې تک شين شوغښې بې سنه پراخه پرانستله چې په
دواړوخواووکې دناستوکسانو له لاسونوبې مړې وغوږولی
غښې کړ هله بچی راشه اوپه هغه ښيه ژبه ورته لګياشو
ده په داسې مهارت هغه دماشومانو ژبه کوله چې نژدې
وه دلته ناست يوځوماشومان پرې دخپل هم ولی کومان
وکړي.

اوس لارکومه ده چې دغوږې دلی دک دسترخوان له
پاسه هغوی تېرشي او ددغښې ورته کړي لومړی خوبې څه
ترافيکي اشارې وکړي خوځنګه چې دلته نه څوک وېرېږي چې پردغه
اشارو بې سرخلاص شي اونه کوم دترافيکوپوليس ځکه خوبې راسأ
دراتک قوماندې ورکړه ، دچاپرلښې ايښی دچاپرسراوورته
غورلاسونه ايښی خوله وېرجنجاله وروسته ددغښې تېرشوه.

* * *

دغوماشومانودا وړاروپاې لباس زيب تن کړی وچې

لیدونکی ته یې دا انډېښنه پیدا کوله چې هسې نه په نیویارک یا واشنګټن کې ناست دی که څنګه؟ د نوی مودې له هغه اعلی ټوکر څخه یې داسې په مودې برابرې جامې ورته جوړې کړې وې چې په هالیوډ کې یې هم چا سیالي نشوای کولی.

له ماشومانو سره د ده د خبرو اندازا وا رې کو دا شک پیدا کاوه چې دی یې کنې پلار نه بلکې مور وي . . . .

دلته داسې درې ځلور هلکان هم وو چې دیتیمي څېړو یې څونه تکه شنه کړې وو، هغوی پلار نه ولیدلی چې مینه یې احساس کړې وی، مادا وخت د هغوی په ستړکو اوښکې کې نیوتلونې خوسوځنده احساس او یوه طغیاني تړاوه لیده چې دوی یې نورهم تحریکول او پرزخمو یې دمالګې دوړو لوکاروکاوه.

ماشومان د چا نه وي خوښ، کوم پلار له خپل اولاد سره مینه نه لري خو د ده دالدې ټولو وراخوا وه - ما ته څوکاله مخکې د ده هغه خبرې را په زړه شوې چې څوځوانان یې په لوڅ سر څومره ریتلی وو خواوس د ده د جامو دا حال وچې له دې سکو یې د وخته وسله اخیستې وه .

د ده دواسکټ په جیب کې نوی مسواک تیار سی ولاړو خو د ماسپښین او مازیګر په او داسه کې له ځایه هم ونه

شوربده اوما دا ورو کښله چې اوس مسواک هم د چا خبره د تېم
ورکولو اومود وسیله کرځېدلی که څنګه ؟

هغه چیغه کړه!

هغه کړی وړځ د اورلګیتوله ټکری سره وګرځېدی. چې
ګنی وېې پلوري او دبېګاله یاره دریې څلور کلداري ترلاسه کړي.
په زړین واو وروکو منګولو کې یې ټکرې په ټول سناوګرځوله
مازدیګر چوک یادګار ته راورسېد. ښه ستړی وو. یوې اکوښی
ته یې ټکری پرځمکه کښېنوده. ده لا د آرام ساه نه وه کښلی چې
ترافیک په یوه ناڅاپي او ګلکه څېړه ونازاوه. له ستړکو
یې سره سپرمغی بادشول، تلولی یې توپ کړه، ټکری تري په
ځمکه پاته شوه. داسې لکه چې دزړه توته تري پاته شوې وي.
ده لا د ترافیک له غوسې دګو اوږدو ستړکوته نه ووکتلی چې
د ریالونو او د الروله تبادلې نه وزګار شوی پجیرو موټر د هغه
خاوند دپیسو په نشه کې په شالوړ راغی او د اورلګیتو پر ټکری

یې خپل جانانه تمایرونه ورښخ کړل ماشوم چیغه کړه لکه
چې زهر یې په سینه کې پرتې چاودلی وی دترا فیک
له کلکې څپې پرې سره آخ هم دهغه له خولې ونه خوت خو
دتمکرۍ له خرپې سره یې یوه سوی چیغه له خولې
وویستله داسې لکه چې دا تمایرونه پرې تمکرۍ نه، دده پر
مغزۍ راتپې شوی وي - پرتمکرۍ وروغورځېدی او
په خپلو منګولو میې دتمکرۍ او اوږلګیتو پرخپې سره
راغونډ ولی پداسې ترهېدلی انداز لکه چې دتانګ تر
چینو لاندې دخپل شهید پلار هډوکی راټولوي، دموټر
خاوند په بریتوکې موسکی شواوپه اکسلیټر یې پښه
ټینګه کړه.

خدای ج خبرچې ددغه پېښې په صله اودموټر دخاوند
له مهربانۍ نه به دهغوی دسپېرې خیمې نغرۍ څوروڅې
سورپاته شوی وی او دهغه یتیم ورونه اوخور به څو
څو کلنه تر بلګه دربدر اوتاوراتاوشوی وی.

ناآشنا آشنا

سبه یې پېژنم - له څوایې پېژنم - دسبو وخې له وختونه یې پېژنم - هرڅه یې راڅرګند دي خو ګاله مولې یوه دیګه بنګلدیشي وریجې اوکچالو خورلې ، په یوه مېز او یوه کاسه موخورلې په یوه مکتب کې موسبق ویلی او په یوه دوړ کې موویلی .

* * *

مامې وطندارانو خپلوان همېشه ملامتوي چې د دوی د هېڅ درد او تکلیف په سبه نه یم راغلی - نه مې ورسره دجبهې ، وسلو او مهماتو په اخیستو کې څه مرسته اوسفارش کړی او نه مې ورته دڅه مالي مرستو اوکومکونو په اړه څه منډه ترهه ؛ کرم ندی هغوی دالس یوولس کاله ماوینې چې پدغو دفترونو کې لوغړ یم را لوغړ یم دوی زما سبق

شپږو اوو پرځیانو هغه پداسې کلکه محاصره کې ساتله چې هیڅ
کوتې وېوست لکه چې احمد شاه په هغه مرګونې حالت
کې لدغو (۷) تنو څخه ځان خلاصولی شوای، او د زندان له
وسپنیزو دېرالونو څخه یې هم په وزرونو الوتلی شوای.

اوخنګ له کاغذونو ډک کوري، خوشحه خبر دی چې دا هغه کاغذونه دی چې پدې لارکې د دوی څه په کار راشي دا هغه کاغذونه نه دي چې څوک پکې د جبهو تشکیل د وسلو مهماتو او مرستو پېشنهادونه او منظوری ولیدلی شي دا داسې کاغذونه دي چې دسرې د له مغزو سره دسرې سرخوري.

هغوی ما ته همېشه کله په متوکه او کله جدي وايي: ته به کله زمونږ په دردخوري؛ دوی زماله مجبوری او بې وسۍ څه خبر دی. ظاهراً خو اکوري چې زه هم دا دی په دفترکې کار کوم او دالس یوولس کاله کار کوم نو بیا دې څنګه له دوی سره مرسته ونشم کولی. په ښه يې را نشم او د دوی په مخ کې دې زما واسطه او سفارش ونه چلېږي. دوی چې په دغو کنوه مجلو، اخبارونو او کتابونو زما نوم کوري نو داسې ګڼي چې د صاحبانو په: پرونو به يې هم همداسې نوم نقش وي، هغوی څه خبر دی چې د صاحبانو دزرونو د - دروازو تختې چا ته ببرته وي او چا ته بندې...

* * *

خوزه څه وکړم وايي تشه لاسه ته مې دښمن يې. ما ته خپل

حال ښه معلوم دی چې څومره ناتوانه او بې وسه یم، خو تېرې
داچې نور زما خواري او بې وسې نشي درک کولی او پدې زما
د وطنداڼو او دوستانو څه چې زه لکیا یم دچا خبره (که دمبالغې
اجازت وي) دخپل تن وېنه مې په قلم کې اچولی او د دوی
هر قهرمانی، هر قربانی، هر سوبه، هر درد او د ژوند
دا هر کوښه پرې اخځوروم او ابدي کوم خو پدې دهغوی
څه، داخونه وسلې ورکولی شي نه پیسې او نه ....

دا رېښتیا ده خو زه څه وکړم زه خپله پرې مړم او دا ښه
محسوسوم چې دوی ټولو ته څومره کوز کوري یم. دا ځل همداسې
یوه دوست راکېږ کړم مجبور یې کړم او که رېښتیا را باندې وایې
باټ یې هم کړم او ترسره یې وړې هم راتاوکړې - که هرڅومره
ورته خپله بې وسې ښې ته کړه خو هغه چې ورته منله آخر د یار دوست
خبره ده که زما له پاره هرڅو کړلنه وه خو دهغه خاطر ما ته دېر
ګران وُ.

پښوې زور نه اخیست، تابه وېل په تېر واغزو یې بلې
پښې بردم داسې لکه چې داور په سکرو ټوټو تېر پرېږم څو ځله مې
قصد وکړ چې بېرته وګرځم ما ته داتګ داسې منکر ېدا و یوه
داسې پټ ځالت په سر اخیستی وم لکه چې دیوې دېرې غټې

گناه په درشل پل ږدم، الکه چې د دې پرستر جرم په لور پلونه
اوچتوم، خو هیڅ چاره نه وه، په هغه دوست می هیڅ پلمه نه-
چلېده او هیڅ دول عذر مې نه منل کېده.

د تردید ونو او شکونو په دغه کشمکش کې به مې کله پل
ونیوا او په شا به شوم خو دهغه دوست مظلومه څېره، پریشانې
او خپله وعده به مې هېڅه ستر کوته ودرېده.

* * *

خپل ټوم مې دکاغذ پرېږده وړه ټوټه ولیکه او دهېب
حضورته مې دا انضباط په لاس ولېږه کوربې ودان د ننه
یې وغوښتم او هلته په انتظار کېناستم.

له سنه بخته وویم که له بده بخته چې زه د دغو دربارونو
له نزاکت سره پدغو یوولسو کلونو هیڅ آشنا نه شوم- نه
له دغو تعاملاتو سره بلد شوم اونه مې د دغه دربارونو په
مسلطو کرنچارو سر خلاص شو.

زه وېږم چې دلته ببلې خبرې، ببله لهجه، ببله پا -
لیسي، ببل خصوصیات، ببل پوزنیول او حرکاتې حرکات په
کار دی زه خووایم چې که ماغوندې کوم کور مغزه یې پنځه کاله
مسلسل درس هم ووایې زده به یې نه کړي- دا چې څېنې یې

په هوا په دوو دریو ورځو کې زده کوي او عملي کوي داد هغوی نبوغ او عبقریت دی، ټول خو داسې نشي کېدی زه دلته خپله ناپوهي او سادګي منم که څوک وینه وایي هم زه یې منم. خکه خو دا دی له دې جاروبنوسره مې فاصله دا چې احد ته ورسېده چې دېرو دهېرو شویو دوستانو له لست څخه هم وغورځولم.

انتظار هسې هم تر یخ وي خوږه پدې خوښ وم چې د دروازې له هغه سره ټاک لمر څخه په امان کې وم او دلته مې په انتظار خانه کې دې کې هوا غنیمت ګڼله.

لږ وروسته دې یو ځوان، یو شیک پوش سوډ او سپین ځوان چې دده او کردی وینه یې درلوده زما توجه ځانته جلب کړه. دی دسالون په هغه برسر کې د تېلفون غوږۍ په لاس په ولاړو په خبرو لګیا دی، ما ته لومړی دده په لاس کې د تېلفون غوږۍ او دده حرکاتو دا تصور اوباند لېښنه پیدا کړه چې هسې نه دا ځوان کښرت ورکوي که څنګه؟ کله به مې دده له حرکاتو دا وګڼله لکه چې طارق عزیز لګیا وي د سټالم ګهر پروګرام وراندې کوي او چې هسکو تمیتو او د حرکاتو سرعت ته به مې پام شو نو هو بهود کړا چې زهیب حسن به راته سنګاره شو، چې دخپل د سکوفن کومه شاندار ه مظاهره کوي او چې لږ ې پښې او کاکل ته به مې

وکتل نوماوې چې کنې احمد ظاهر ببرته راژوندی شوی او لګیا دی له خپل هنر څخه تاج محل جوړوي.

ده د تېلفون غوږی هم اسې خولې ته نیولی وه، په ترتیب سره یې خوقدمه وراندې واخیستل - بیا به په شا شوځه لږ او د بېرته یې کین لوری وینې او ژر به بېرته په ملاراماټ شو دنې پښې دګوتو په سرونو به ودرېد او دکینې پښې په پوندې به بېرته نېغ شو او بیا به اتومات په بل اړخ کوږ شو.

بیا ځې زه نه که هرچا لیدلی وای نو حتماً به یې یادکښت خیال پرې کړی وی او یا د نڅا او د سکو هنر د ترینګ سکول او درس. د ده مخې ته ناست کسان داسې چوپ او په ترتیب ناست وو چې د دې مشهور سندرغاړې او هنرمند فن به هم څوک داسې خمار نه شي کړی - داد پاکستان قوالی چې عوام ورته په لږ څه تصوفي او نیمه مذهبي رنګ هم قایل دی څوک داسې مجذوب او مجسور نشی کړ ځولی.

زما د انتظار لمحې هم اوږدې او د هغه د تېلفون کښت شیبې هم. د تېلفون غوږی له هغه کړځنده مکروفون سره بالکل ورته سنګار شوی چې دا دول هنرمندان یې له د سکو

موسیقی سره د خپلو فنري حرکاتو د موازي ساتلو له پاره له ځان سره یوې بلې خواته وړې راوړې شي.

ما چې ساعت ته وکتل نو کا بو نیم ساعت دده دا ننداره روانه، بوختوونکی او دلچسپه صحنه وه؛ زه هم ورورلنده شوم ورته حیرشوم، ومې پېژانده داوخت ده خپل ټیلفوني مایکروفون کېښود ماته یې ترخه غوندې وکتل لکه چې دده په نشه کې: مې دچا خبره نه ښه اوهلې وي ما ورته وخندل غبن مې ورکړه خو دده پوښتنه سطحي وه داسې لکه چې نه یې وم پېژندلی داورلکه چې هېڅ موسره لیدلی نه وي. دا ډول چې شپږ کاله نه، یوه ورځ موهم نه وي لیدلی. په یوه ښوونځي اوټولګي کې نه په عمرو موهم چېرې ملاقات نه وي شوی ما ځان ورمعرفي کړ. دی په چورت کې شو لکه چې څه فکر کوي، سر یې وخوځاوه لکه چې بیا یې هم نه وم پېژندلی له ځان سره مې غوښته کړه راشه هغه ټولې نخښې ورته ووایه، کوندی په یاد یې شي اوومې پېژني.

لکه چې زما په ژوړو او ټرکټوکې هغه خپلو تېرو یادونو اوبوبنو نوونکو حالاتو د خاطرو ځلکونه لیدلی وي... لکه چې دهغه زما په ستړکو او څېره کې د خپل ماضي ټول بهیر

د لیکوال آثار

۱ـ په افغانستان کې د کمونستانو قدرت ته رسېدل چاپ فرهنګ جهاد
۲ـ د افغان مجاهد آواز // //
۳ـ د افغانستان سیاسي احزاب // //
٤ـ د مجاهد پیغام // //
٥ـ د وېښ مشاعري // //
٦ـ جرایدِ غیر دولتی افغانستان // //
۷ـ په افغانستان کې روان اسلامی جهاد چاپ د مجاهدینو اسلامی اتحاد
۸ـ خبري // د جمعیت اسلامی افغانستان
۹ـ د ګمېځ یاد // //
۱۰ـ شارقي د خپلو انقلابي لیکنو په رڼا کې // //
۱۱ـ احدي د احدیت په لار د ابدیت په لور // //

۱۲ـ اسناد تاریخی افغانستان چاپ فرهنگ جهاد

۱۳ـ به یاد سخنور سخن آفرین ستر که استاد خلیلی " "

۱۴ـ جهادي فتواګاني " "

۱۵ـ سنګرداران قلم " "

۱۶ـ داورتراني د ژوند شعرونه " "

۱۷ـ قهرمانان شهید " "

۱۸ـ خون کې پکار " "

۱۹ـ اوهغوی چې مرګ يې نشي وژلی چاپ جمعیت اسلامی افغانستان

۲۰ـ منزلونه اومنزلونه " "

۲۱ـ ستیارې لارې رڼې کړینې " "

۲۲ـ د حضرت محمد (ص) د زمانې لیکنې (چاپ) شهید پیغام مجله

۲۳ـ معرفی جراید ومجلات جهاد افغانستان (چاپ) افغان جهاد مجله

۲۴ـ تاریخ تکرارېږي (چاپ) میثاق خون مجله

۲۵ـ وینه په قلم کې چاپ د جهادي څېړنو مرکز

۲۶ـ داوړې دایادونه هدا اثر "

۲۷ـ شخصیتونه اوخبرې چاپ ته تیار

۲۸ـ د رڼا په تکل "

۲۹ـ دوینو ښکنبې "

۳۰ـ تاریخچهٔ نهضت اسلامی افغانستان	چاپ ته تیار
۳۱ـ د یوه ګل شوه	//
۳۲ـ په جهادي ادب کې انقلابي څپې	//
۳۳ـ د تیارو په زړه کې	//
۳۴ـ فهرست اسناد آرشیف فرهنګ جهاد	//
۳۵ـ اتحاد ونه او ائتلافونه	//
۳۶ـ آزادي بخښونکې جګړې	//
۳۷ـ ... او څپې په غږ ځنګ وې	//
۳۸ـ کړنې د پیروي د محمد (ص) ده	//
۳۹ـ ترهېدلې خاطرې نا ناآشنا حقیقتونه	//
۴۰ـ ... او ګولۍ وچلېدې	//
۴۱ـ شعر او ادب د مبارزې په سنګر کې	//
۴۲ـ حادثې او یاداشتونه	//

ARIC
B
43831
NAN
10119

ARIC
Established
1989

لیدلی وي او د ټولو حوادثو ننداره يې کړې وي ... وايي دغله په
ښيره خس وي له ده سره هم يو پټه ويره وه هسې نه چې زه
دده د ماضي هغه ټولې کيسې، هغه ټولې خاطرې او -
ياد کارونه راوسپړم او رسوا يې کړم .

ما لا دده د ماضي ټول يادونه په تصور کې نه و -
راسپړلی چې د مقام دروازه ليرې شوه او صيب راووت له
هغه سره لاد زړه ستر کوځه قدرو لومړی غږ يې پر ما
وکړ، روغبړ ته يې غږ پرانسته که څه هم دده په خبرو او
روغبړ کې هغه مينه او حرارت نه وکوم چې دغه مقام ته له
رسيدو مخکې ورسره و .

خو هغه زما نا آشنا انديوال د صيب په دغه وضعيت
داسې خوابدی شو او داسې اوږې بل شو لکه چې دده د
خولې مړي يې ما ته راکړی وي . داسې تراړي او غوسې په
سر واخيست لکه چې دده په حق کې د پرلوی ظلم شوی وي .

ما داسې وګڼله لکه چې د صاحبانو له خوا د خولې تشه
خندا او سپېره روغبړ او ويوه نيمه خبره د دغو دربار يانو
په موږ نه لورېږي ، نه يې شي زغملی او موږ کنهګار دد يې
مستحق هم نه ګڼي .

قرباني

هغه لا يو ټپي نه وی را رسولی چې په بل پسې ځغښتی
يي - زيارته دغرولو جګو سورچلونو نرخمی پراوښه په سينه
راښوبيږي - بس کړی ورځ هغه په همدې دول سره تېره
کړه - سورچل په سورچل وکړځېدي - دغره هره پرېنده
اوکس يې وکوت هر پل او ځنبنه يې تعقيب کړه - شاوخوا
يې ټول ترسترګو او قدمونو لاندې څوځوارې وارولو
راوارولو - لکه چې يقين يې راغلی وي - په شهيدانو پسې
شور هغوی يې هم ځای په ځای کړل .

هغه پداسې دقت خپله لټون جاري ساتي لکه چې دهغه
ورکی هيلې اوارمانونه ټول په دغو غرونو اوکرونوکې پټ وی
دده ټول فکر، سوچ اوحواس په همدغه دبرواوکرونوکې

لا لهانده اوسرگردانه وو،اسي لکه چې هغه بل ځای نه ځوند لري نه فکر اونه هم کومه هیله او آسره .

هغه د جګړې په دوړو اولوګی کې د جنګ د ډګر پلوښت لوښت او هر پیڅه وګرځېدې او څوځوواړه پرې راغبرګ شو او چې سبه داوه او مطمئن شو نو قوماندان ته یې وویل :

حاجي صیب ! ټولې مورچې مې وکتلې پل پل او دوینو هره څښه مې تعقیب کړه که خدای ج، کول نور نو ځوک زخمي او شهید نه دی پاته - اندیوالان هم دادی پوره سول زه به نو اوس دخپل کور احوال واخلم بریځ مهال چې زه په سنګرونو ګرځېدم چې کتل مې پرکور مې الوتکو بمان راوغورځول په دوړو کې ماځوک ونه لیدل چې له کوره راوتلی وي - زړه ته مې ولوېدې چې ترچې او دېرالوبنو لاندې شهیدان سوی هغه وخت زه دزخمیانو په راوړنه اوپالنه بوخت وم ، اوس ودځم چې څه پته ولګوم .

قوماندان ټوپ کړ- بجا هدینو منده کړه هغه ته یې دملامتیا اوغوسې په ګډوانداز کې وویل داڅه وایې بې انصافه تانو ولې وختې داخبره نکوله خوهغه په دادمنه لهجه بې پروا پرې وراغبرګه کړه حاجي صیب ماته له هغوی نه دزخمیانو راړسول دجهاد

لپاره دهر کتور منکار ېدل ما وې چې روغ سې بیا به جهاد کوي
او هغوی خوسې هم ترخاورولاندې دی .

مجاهدین نخکې دهغه ویجاړکورته ورسېدل. دهغه
مېرمنې او درېوکوچنیانو دېرالونوترلوټو او چټلاندې
دېمونو په پارچو غلبېل غلبېل دشهادت غېږې ته ځانونه سپارلی
وو.

د خیال په وزرونو

څه د پاسه لس کاله کیږي چې زه په میاشت نیمه کې پدغه لاره د خپلو نا پایه خیالونو او سوچونو په بهیر کې ځم راځم.

کله کله د دغې لارې بې لابل پراوونه راته د پرېښوانې رازونه، تاریخونه او واقعیتونه رامخې ته کړي. په یوه آن کې د پرځه وکړم، خیال او تصور راته ټول وختونه او زاړه یادونه راته نغدې ستې کوته کېږدي - هغه څه چې ما په کتابونو کې لوستي دلته بې د خیال په وسعت او د احساس په برکت د سر په سترګو وینم.

زه ګورم چې سوري شهزاده او د هغه نیاوړي حکومت دلته لګیا دی د الارجوړوي ګومه چې اوس پرې زموږ موټر

لکه دباد څپه تیریږي ، داسې هغه تکی ته راورسیږم چې
دکالنجر د مظبوطی کلا د فتحې پروخت دهغه دپوځ جهښتا
اوراخلي. دی پکې ستې کیږي خوله خدایه غواړي چې د
فتحې ترنرې سیې ساه متینګه لري.

احمد شاه بابا ګورم چې د حضرت شاه ولی الله دهلوي
د فتوی اوغوښتنې له امله غښتلی مستې او سرې ستړګې په
دېره تلوسه د مرهټیانو له ظلم څخه د مسلمانانو د نجات پراسرم
پدغه لاره خپل لښکر سره بریښي، پاڅه او درانده قدمونه
اخلي. د اسونو د پښو خړپاړ، د سپرو د وریږ او کړدونه د-
آسمان په لورنا کراره ګورم.

اودغه ورځ پاڼي پټ د دګر سوبه او د مرهټیانو شکست
دا ټول د خپل وطن لدغه روان جهاد او مقاومت سره غوټه کړم، او
هغه لحظه چې احمد شاه بابا له دهلي نه د خپل وطن په یاد ویل:

د دهلي تخت هیروم چې رایاد شي
زما د ښکلې پښتونخوا دغرو سرونه
تاته راشمه زرکې زما فارغ شي
ببله تا چې اند ښکنې دزړه ماروونه

زه اوس دهغې مینې د کشش او قوت اندازه ښه لګولی

شم کومه چې له احمد شاه بابا څخه د پښتنو د غرونو مینې
د دهلي تخت او تاج هېرولې شوای.

دلته ما خیال او سوچ نور هم په مخه واخلي او راته وایي
داکومه مینه وه چې له بابا څخه یې د دهلي تخت او تاج هېرولی
شوای، د وطن غرونو او د پښتو د هندوستان په سپینو سرو
معمورو پادشاهي د هغه په نظر کې هېڅ هم نه ګڼله؛ ده د تخت
او تاج پخپله توره ګټلی وو خو د وطن مینې هغه کرارنه پرېښود.
په رښتیا هم له مشرانو سره همداسې "عشق" او مینه ښایي کومه
چې پخپل برکت او اعجاز له (۲۲) کلن زلمي "احمد خان" څخه د تولو
پښتنو بابا جوړولی شي. زه اوس د هغې مینې په لټون پسې سرګردان
یم. زړونه او سینې لټوم خونه یې مو هم هغه چې له بابا څخه
یې پادشاهي، شهنشاهیت او د دهلي د سرو سپینو تخت او
تاج هېرولی شوای.

احمد شاه بابا د دهلي تخت او د هندوستان پاچاهي د
وطن له مینې په دېره تلوسه لوګی کولی او د وطن دلیلا
پښتونه غوږ ګولی شوای هغه تولی د بدبې او جاه و جلال ته یې
لته ورکوله خو خپل وطن غرونه او سپېره داګونه یې نشوای
هېرولی. خوښ د اقتدار تلوسې او د چوکۍ نشې زمونږ په

زړونو او فکرونو دا وړ منګولې بنخې کړې چې د خپل څو
ورځنی اقتدار، موقف، غریزې او غرض نه د وطن
او ولس په قربانی هم دریغه نه کوو. د خوشحال بابا خبره:

یا هغه پښتانه نورو او دانوردی
یا د خدایۍ به وهمدغسې تقدیر

لویه خدایه! ته یو ځل بیا د بابا همغه عشق او
احساس زموږ په زړونو کې بیا په جوش او څپو راولې -
بیا یې تر پاني او وپاروي بیا یې د الوت وزړونه وغوړوي
کوم چې د وطن غرونو او دښتو له هغه څخه د ډبلي تخت،
تاج لوسره او سپین هېرولی شوای.

* * *

هوډ دلاړې په اوږدو کې وینم چې بت شکن محمود
د سومنات د اپر ځواو منزلونه وهي او د بت شکنۍ تاریخ
جوړوي.

اکوړې ته چې ورسېږم نو یوناکراړه او پاروونکی احساس
مې په سر واخلي د خوشال بابا اکوړه د هغه قبر اوله پردیو
سره د ده هغه کرکه او دښمنې چې ویل یې «ما داسې ځای بنخ
کړئ چې د مغلود سپرو گرد و نه زما په قبر و نه لوېږي» هغه

خوشال چې دافغان په ننګ يې خپله توره ترلې وه ،

لاتراوسه يې ماغزه په کرار ندی
چاچې ماسره وهلی سر په سنګ دی
لاتراوسه په لرزه پريوزي له کتنه
چې دچا تر غوږ نه ما دتورې شرنګ دی

خونښ د بابا پر ولس د روسوالو د ظلم، بربريت او تېرۍ لپې بلې دی او لوخړې يې د ده پرتمانه تو بې پر پوځي د دښمن د تو پونو او بمبارۍ و ګردونه لګيا دی ده پر قبرانبار پرې. او د پردې سوه مهاجرو بې اسرې کاروانونه د ده په سيمه د بې وسې سپېرې کېږ دی د روي .

دلته همېشه پر ېوه لوحه زما ستر ګې لګېږي چې د سرک غاړې ته ولاړه ده له پاسه پرې لیکل شوی :

دافغان په ننګ يې وترله توره
ننګيالی دزمانې خوشال خټک يم

لوچې ته چې سرې وګورې دا سې ښکاري چې مانې دزړه په زور په دېره بې قدرۍ ولاړه ده ، ننګ يې الوتی ځای ځای پې کړنې وراني دي چې سمه لوستل کېږي هم نه . خدای ج خبر د بابا روح به دخپل

ولس پدغه حال څومره ناکراره وي هغه چې پښتنو ته
يې دکامنې دا کربنه ايستلی وه :

پښتانه که بل څه فکر کا نابود دی
بې له توري خلاصی نشته په بل کار

دنګه آسمانه دومره نور پورته شه

زه دا نه ګنم چې هغه به نه درپېږي - زه دا نه وایم چې هغه زړه به روغ رمټ وي - آخر زړه څه کاڼی ندی - دغوښې یوه ټوټه ده زه دا هم نه وایم چې ده به ماتم نه وي کړی او پر هغه ویر به یې ژړلی نه وي او ښکی به یې نه وي لوڼلی او سرمخ به یې نه وي وهلی.

زه دده د زړه درد او څوب نه محسوسوم د ده د زړه زخمونه له ورا معلومېږي او هر څوک پوهېږي چې د هغه پر زړه خورلی پرهرونه څومره ژوردي. دا پرهرونه درغېدونه نه ښکاري - دا پر زړه د ننه پټ ټپونه دی، کاري زخمونه، د زړه اوځیګر پرهرونه.

د ده د تندی هره کرښه د هغه د کړاوجن او درد بدلی ژوند ټولې بوږنوونکی کیسې بیانوي - د ده وچ زېښلی تن پر ده دراغلینو غمونو پته خولی هغه ټولې ترهېدلی خاطرې راسپړي

راکټ اولاکت

زه چې سهار اومابنام خپل کار ته حُم راحُم نو پر هغه مې ضرور ستر کې لګیږي د (۲۰)، (۲۱) کلونو نوی بنایسته کسی حُوان دی چې دوسله والو سانو نکو د تو پکو په سیوری کې بې پروا دلاس پسنو، سر ستر کو او وروحُو یو د ول ځانګړی اکټونه اجرا کوی او یوه نیمه هندي سندره دهغې له اکټونو سره زمزمه کوي، کټ مټ داسې لکه یو فلمي اداکار او کلوکار.

دی په لاره درد ونو او ستونزو ځپلو خړو اوزمو لیږلو مهاجرو ته په بې پروایی او تکبر وګوری او داسې په تاوکې مخ ترې وګرځوی لکه چې په زړه کې یې دې ډبره کړکه ترې راغلی وي چې څله سهار اومابنام دهغه دروازې مخې ته پندوی او خیالونه او آرام یې ګډ ابنوي داسې چې یواځې همدا

دوی د خپلو نشو تماشو او خیالونو په لاړ کې خندا کښې اوبس.

دده په غاړه د سرو زرو لاکت په نړۍ طلایي مزې کې د هغه له اکتونه یوه د هغه د غاړې او تندې په واښتن کې له ډیره جوخت هماغسې حرکتونه او اتن کوي او د لمر له تېزو وړانګو سره د تکر پرې وخت داسې بې سده شغلي وښندي چې حتماً دلیدونکی نظر په ځان پسې کاږي او نظرونه په هغه پسې ځغلي. په تېره د هغو یو زلمو، چې کسو او اړو مهاجرو تلولی نظرونه چې په دغه درګاه او دربار کې د څه هیلې او تمې په اسره په خاورو او ګردونو کې لوغړ یږي.

دلته دده په غاړه د سرو لاکت طلایي وړانګې ښندي او دی له هرڅه بې پروا او بې خونده د خپلې مستۍ ځوانۍ په مستانه تالونو ناڅي او هلته د هغو تورو او دنګو غرونو شاته د هغه عمر ځوانان، د هغه ولولې نابیسته ځوانۍ، راکټ پراوږه د دښمن سر تیارو کې د نور کړنې اغځو روی. زه نه پوهیږم وخت او حالا تو څنګه د غه ځوان له هغوی را ښکل کړي، دی یې دا ول او هغوی یې هغه ورکړ ځولی، د دغاړې تر یې طلایي لاکت او د هغوی یې خوږې راکټ اچولی دی.

لکه چې ځنې غاړې له ازله لاکت او ځینې راکټ ته جوړوي.

PROPERTY OF ACKU 10119

داسې چې دولس ټولو دربدرو مې کړېوان نیولی وي...

نن مې کړی وړځ د ضمیر له یوې ستغې ملامتیا سره ټپره کړه، نن مې ټوله وړځ دیوې اړوا سوځوونکی ګناه تر پړې لاندې بېګاه کړه، نن مې هر ساعت ځان د وجدان تر یوې سختې مواخذې لاندې د پر مستومانه اوکمزورۍ احساساوه، نن لحظه لحظه د یوې پستې ګناه اور سوځولم او ویلی ګولم. دغه وړځ زما ستړګې د خپل احساس په وړاندې ټیټې وې، پر دغه وړځ مې د فکر اوجذباتو په مقابل کې ځان د پرکړنګورۍ لیده، اوس مې هم چې هغه کړې سرا په زړه شي له سره تر اپښو مې یوه څړیکه، یو درد او یوه سخته نا ارامی په سر واخلي. ماداسې ګناه نده کړې چې پر اقرار یې له خپلو اوږو وبار سپک کړم، ما

داسې معصیت ته لاس نه دی اوښه دکړې چې دغه تش اعتراف
مې له هغه ملامتیا او د نجالت له احساس څخه وژغورلی شي،
دا داسې ګناه نده چې کښې دخولې یوه توبه دهغې خیرې
ومینځلی شي.

زه دالس کاله پیر دغه لاس تلم راتلم له هشنغری تربورده
لاړ مانه دلسو کلونو په اوښ دوکې لکه دلسو کلونو اندیوال
آشنا ده. ما پدغو لسو کلونو کې دلاړې په اوښ دوکې دهرې ټانې،
بلدنګ - بنکلې، دکان او مغازې لوچې لوستې - یوځل نه څو
څو واړه. زما نظر له دوارو خواو دبس له هندارو دلاړې په
اوښ دوکې پدغو لوحو کې ښخ ؤ. اوس هم د دغه لاړې کردې
لوچې زما په ذهن کې کښلې اوناستې دي اولکه دضرب
ضربا کردان مې په یاد دی.

د دغه لاړې یوه لوحه «عثمانیه رستورانت» دی چې هندارې
پې سپینو پردو پوښلې - زه نه وم خبر چې د دغو سپینو پردو
شاته څومره تور ماحول حکم چلوي او څومره حریصې او بې
احساسه څېرې دخپلې د دوزخ د هلمن مزید غږ ته لبیک
وایي.

نن زه یوه دوست دګناه پر دغه درشل وروخښ ولم

کوم چې تراوسه مې د جذباتو په کوکل لکه جوهر داره چاره ښخه ده.

په رستوران له ننوتلو سره دایرکټر پیشز بیوې یخې څپې داسې پرمخ ووهلم چې نشو دې وه ساه مې بنده شي شاوخوا مو چې ستر کې وغړولې نو ایله یو میز تش معلومېده داسې چې دبل چا انتظار کوي او موږ هسې پرې وار ورومبې کړې وي.

ما چې وشېرل ټول (۲۱) میزونه په ډېره منظمه اوڅې توکه اېښودل شوي وو چې ځینو ته څلور او ځینو ته شپږ چوکۍ پرتې وې ایله همدا یو میز و چې موږ دوه تنه ورته ناست وو.

درستوران د ټولو میزونو شاته آشنا شېرو سنګرونه نیولي وو اوکباب کړې چرګان یې پېداسې تنګه محاصره کې نیولي وو چې لحظه په لحظه یې څپلو اسوبلیو کې یو په بل پسې رانغښتل. دوی به په سلامت ودېت چرګ خپلې داړې داسې ښخې کړې اوپه داسې مهارت به یې په یو دوه کپونو دچرګ اسکلیت لغړ ویست چې دشلو دېرشو کلونو قصاب به هم دغه دول هډوکی له غوښې بېل نشي کړې.

نه اوس هغه خوراکی کیږي هیڅ نشم ملاستولی چې
شپې په پته اوغلا غلا دکوندو خوارانو چرکان خوري.
پرمسبزونو د مظلومو چرکانو دهدوکو دپرې پرتې
وي. د رستوران مستخدم د میز پر سر پرتو هدوکو ته موسکی
موسکی شي یو وار پرتو هدوکو، بیا تازه راوړل شویو
چرکانو اوورپسې د دغو بنیادمانو تېرو داړوته چې لکه د ماشین
داسې تېزې چلېږي وګوري. سبا یې د ته هم د چرکانو اوګیدړانو
هغه روایتي کیسې اوپتوکی په زړه اودبدلی وي او دلته د سر
په سترګو په دغه ماهرانه تمثیل آفرین وایي. دلته د تشرخبرو
او ادعاګانو متخصصینو داسې محشر جوړ کړی دی چې د
دوی کړده مبارزه د چرکانو پر ضد بسیج شوی وي او دوی
هم د خپل تعهد او مبارزاتي کړنې له مخې په بچاړه چرکانو
پسې راځیستی وي.

ماله دوې میاشتې لیدل چې د تن پروري او تعیش
مکروب څنګه زهرجن په تنوکې غږونې کوي او د پېښورو
عصري رستورانونه د دوې روپو په زړونو لکه د طنازو معشوقو
نازونه او ننګ کتونه څه ورلوړې اوکړشمې کوي او د دغو رستورانونو
چرکان څه ډول دوی د ګیدړانو په چمتو روبن دوي.

د خپلو پهلوانانو د ګوګاکولا له نوش جان کولو او څو
پرله پسې جانانه اربزمیو وروسته د مینې پر سر بل ته سرې
وګوري داسې لکه چې دوی ته بنه آشنا وي، په دومره
بې پروایي چې څوک به دلسو شلو روپیو بل ته هم ونه ګوري،
پدې کې بې پروا جیب ته لاس کړي سړي فکر کوي، لکه چې کوم
ماشوم ته یو مټی ممیز ورکوي، دوه پنځه سوه ګینز تک شنه
نوټونه راوباسي۔ سپرق شي چې په قاب کې بې وړکونه راکړي، په
دې کې د خپلې کاکه ګۍ اوځوانۍ د ثبوت ۔ پاره دلسو روپیو
نوټ د مستخدم داسې حلال حق ګڼي لکه په هغه پوري اړ ځان
کې د هغه مهاجر مزدور چې ببکاه په خپله مزدورۍ کې وي۔
سړي هګ پک شي چې د اګنۍ هغه بې ګوره بې اوږه اوپردې پس
مهاجر دی چې په وطن کې بې دوینو سیندونه بهېږي او د هېواد
څپک څپک بې وینو، اورونو، ویر او ویرې نیولی ۔ لوبې
رنځورتیا۔ مرګ اوزندان یې دولس پرتې منګولې بنخې کړې او
د حق لپاره د خدای (ج) په لار کې هره ورځ د خپلو وینو او
سرونو نذرانه ورکوي۔

دسړي هېڅ باور نه کېږي، د دوی ناسته اوحرکات، د
خبرو انداز، خوراک، اکتونه او د کړس کړس خندا کانې سړي

بالکل پدی خبره شکمن کړی. داشک هغه وخت دسړی په زړه
کې نورهم ځای ونیسي چې کله کله به یې د رستوران د پاسکو
نغمه ستغ سازته د دوی دلاسونو، پښو او سرښه متوازي
حرکتونه ترستر کوشول چې د زړه له اخلاصه د رستوران دشنو
زپړو اوسرو څراغونو له ستر ګو نو سره غبرګ خوځېدل. د
رخصتېدو پر وخت د هوټل مالک ورسره داسې د پخې اشنایی
اوبیالیدو د دوامدار لړې کرمه په مخ ښه وکړې لکه چې همدا
د ی وي، همداچرګان اورستوران.

دلته دوی جامې سمې کړې په بزیرو دواړه لاسونه اکاږي
اوخرامان خرامان داسې کرار او میین قدمونه واخلي لکه د
کوم هېواد سربراه چې د ملګرو ملتو د عمومي غونډې تالار ته
ننوځي.

دکمنو دروڼ شویو بنایسته موټرونو څخه د یوه یا دوو
زړه غښې پوړته شي وخوځېږي او د دوی مخې ته په پوره
اطاعت ځان ټیټ اوغښې پرا نیزي دوی پکې ځانونه داسې
د واړه وغورځوي لکه چې ځان پرې د پس درونده شوی
وي اوچې کانوپې په کښه وکې خپل وزرونه ټپولی وي او د
ځمکې لورته رابې کاږي.

* * *

هلته مخامخ د جاهد ډلې پاره دوه روغتونونه دي -
خدای ج، خبر چې دننه په دې تپیانو او ناروغو څه حال
دی خو زه یې د باندې خپلوان او عزیزان ګورم چې
څنګه یې په هغه سره تاک کې د ناکراره انتظار ستغې لمجې د
زړه تارونه وړیږې کوي هغوی د یوې څېرې سیوری
په ارمان شاوخوا اوښتر اوښتر کوري که له چا سره احساس
وي نو د هغوی بوږنوونکی حالت او ناکراری پخپلو کونو
وینو، پوست او مغزو ښه محسوسولی شي د احساس ستر کې
د هغوی د غمځپلو او سوځېدلو څېرو وښتر شا د وی د زړه
د ننه دیټ دوک، درد او سوزخړک له وراندې لی شي.

لږ اخوا شپږ اووه مهاجر دیوه اپارتمان څلورم پوړته
په سرونو د سمټو درانده تاتکی چلوي - له خولو لاندې خیشته
دی - پرپوړې دختلو سپو وخت یې پښې وهې او ږې دي لکه د خزان
پاڼه او سړی د اکثني چې کنې اوس به د لاندې راولوږي.

هغوی خو پرږې ده چې په کمپونو کې ستړیږي نړۍ او
شلېدلی خیمې لاندې پرې ځه تېرې ږي او هلته په هېواد
کې د ننه د بمونو تر بارانو او د اوږې لمبو کې څنګه پرې
شپې ورځې سباکړي د اخونه زه ویښ نه ته اونه دوی.

دا ټول له رستوران نه د راوتلو خلکو او د هغوی
د کوخښتو او غورو شوندو وته په مات زړه او کرکجن نظر
وکوري پداسې بڼه لکه چې پر هغوی دا بده ورځ او دا
لوبه دوی راوستلی وي او پرله پسې تري پوښتنه کوي:
بې انصافو! د دغه رستوران دیوه څا بنت خوراک پر
لګښت دلسو کورنیو پالنه کېږي. د دغه (۲۱) میلیونو
جنابان هره ورځ د څومره کورنیو د لوبې سبب کېږي؟
خو دلته دا دوزخي خبرتې څومره کورنۍ وږۍ او بېوزله
ساتي؟

زه نورنه پوهېږم. خوله ما هم دا کورنۍ پوښتنه کوي. کېږان
ته مې لاس راغځوي اوله ما خپل حق غواړي له ما د خپلې لوبې او
بېوزلۍ انتقام اخلي زما په ستر کو کې بې د خپل کسات ستر کې ښکې
کړي او همدا پوښتنه کوي؟ څنګه مونږ دا افغانستان نه یو؟ څنګه مونږ
کړې نمونږ جهاد ندی کړی؟ قربانۍ مونږه ورکړې؟

په خدای ج، قسم دهغه مخامخ روغتون په وینولیت پیت
هر پرهوڼۍ زما کېږان نیسي له ما څخه د خپلو تپونو په
خوله همدا پوښتنه کوي. د شهید یتیم بچی مې پر جذ باتو
اوربلوی او . . .

دهغه پرسپدلی رګونه دده دغمجن زړه او دردوونکو حالاتو تر څه
واقعیتونه مخې ته کوي - دده د سینې هر اسویلی د ده د -
ناکرار ژوند او پر هر ژلی زړه د څړیکو سیده عکاسي کوي .

دده د خبرې په هر ګوټ کې د ژوند د ناکردو او د حالاتو
د نادودیو تعبیر پروت دی چې دده د ماضي، حال او مستقبل
د تر خو خوبونو، هسکو تمیتو پته ترې لګېږي او د اسې نکاري
چې د امتحان د ناپایه غمونو، دردونو او ویرونو په وړاندې
دده د زغم او ارادې امتحان اخلي . دی آرام غمجن خو ورسره
د اومن معلومېږي - ته به وایې چې د ژوند هره لحظه د
څه نامعلومو خیالاتو، لالهانده سوچونو او څه ناپایه
تصوراتو له یوه څپاند بهیر سره تېروي - دده په وچو شونډو
د خندا څپه د پرلپسې ځغلي - د اسې لکه چې د پرلیږې او په د پر
اوږده وایتن کې په ورکه پسې لالهانده او د هغه په لټون
پسې لېوال وي او د خپلو اوږدو مزلونو په تکرمنو لارو ببې
تیندکه روان وي .

دده د خوښۍ لحظه، د هوسایني موقع او د خوښۍ شېبه
هغه ده چې د دین پرېت او د وطن پر ننګ د قربانۍ یادونه
راوسپړل شي - د ننګ او جنګ حماسه او خبره را منځ ته شي

زه داسې احساسوم لکه چې د دغه رستوران دغو
(۲۱) میزونو دتولو هیښنیوالانو کړده ګناه زما
پر اوږو وپرته وي. اود دغو تولو انتقام له ما اخیستل
ګڼي نو زه داسې ګڼم چې زما دولس تولو وزیرانو
بې ګوره او دربدرونه ګرېوان او مړي ټینګه نیولی،
داسې لکه چې د وی دا تولې لوبې ږغورې او دربدرې
زما له لاسه وي.

ممثل

ده هسې دخپل مضطرب اوسودايې مزاج له مخې هر واردا
کومان کاوه چې کنې زه يې پرموټر نه يم خبر.

دا اووم حُل وچې ده پدې اړه د ببلابېلو ذريعو اولارو
زمابه وراندې د خپل موټر د بنودلو هڅه کوله څوزه پوه
شوم چې پرده اوس خداى (ج) رحم کړې او موږ غوندې لا د
نه کړې اوږپه ګناه کې نه سوځي. او بيولوکس موټر يې د چا
خبره تر پښو لاندې دى.

داحُل چې هغه دکوټې په درشل پل کښود اوپرمايې
ستړکې ولګېدې نو خپله پښه يې وښوله، تلولى غوندې شو
اوپه ډېره ټوندى اووارخطايې جيب ته لاس کړاودموټر
کلي اوکلي بندې يې راوايستل. زه پوه شوم چې اندېوال ته مې بيا
هغه زور ټکليف ورسېد، اوس بيا حتمًا له لېرې نژدې لارو د
خپل موټر خبره داشارو اوڅه حرکاتو له لارې زما تر غوږ رسوي

او خپل نازولی موټر به مې په سترګو کې ځایوي. زړه مې پرې وسوځید، دده داحرکات او خبرې مې د پرې تکراري وګڼلې ما ویل راشه له دغه بې ځایه سرګردانی څخه یې وژغورم، داخل ته وار پرې ورمبې کړه او خپله دده موټر خبره ورواچوه. په زړه کې مې وکړ حسده چې ریښتیا هم مال او دولت دانسان دسکون او اطمینان اسباب نشي برابرولی، بلکې اندیښنې او تکلیفونه یې نور هم اضافه کوي. آخر دی به څنګه دا په سلګونو او زرګونو پیژندوی او آشنایان پدې خبروی؛ چې دده دعقد وخه بار پرې سپک کړی شي.

له همدې امله مې پرکلي بند چې ده په خپلو ګوتو کې یوه خوا بله خوا راړاوه سترګې ورښځې کړې، څوخله مې وویست «بنګش موټر زیونیورسټی روډ» خو دده شکمن زړه ته دا چې پرې لوبه له چې ګنې ما خپلې سترګې دده موټر په کلي بند پېښلی دي. دې انګیا ذهن کلي بند پخپلو منګولو کې لوبوي کله پرقالینه دخپلو خبرو پروخت یوه بله خواکرښې کاږي. راکاږي کله یې سلامت زما مخې ته وغورځوي او کله...

خو چې پدې یې هم زړه صبر نشو نو خبرولوري یې بدل کړو پوښتنه یې وکړه:

وختي راغلی وی؟ هو! نیم ساعت مخکې ده ژړا غږ که
کړه داسې لکه چې موقع یې غنیمت ګڼلی وي داوخت په ښاري
بسونواو ویکنونوکې دې زړیات بیر اوباروي، زه پوه شوم
چې اندیوال لا په هماغه غلط فهمی اوسودا کې ډوب دی.
ده راته بیا اوترا وخیر وخیر وکتل، د ده داخیر خیر کتل داسې
ولکه چې زما په ستړکو او څېره کې دخپل موټر تصویر او علایم
ګوري، خو داسې معلومه شوه لکه چې کوم څرک یې نه وي تر-
ستړکو شوی ژړې هلته په کونج کې یوه ناست دسکو او
شیک ژمنی ته غږ کړ! موټر به دې هغه سیوری ته درولی
وای....

ده خبرې هغه ته کولې او ستړکې یې زما په ستړکو کې
ګنډلې وې چې ګنې زه به اوس ټکان خورم تعجب به کوم په
خندا کې به دموټر مبارکي ورکوم اوده ته به په پر موټر د
تبصرې دوراندې ګولو وار راسپرې زه دی نه ملامتوم
کېدی شي ده خپله ټوله خواري اریانی اوسیاست بازی دهوغه
موټر له پاره لوبولی وي اوس به یې خود زړه هره غوټه دموټر
له هرهارنګ سره خلاصیږي اوغوږیږي، څنګه به یې ستړکې
پرې نه ږدیږي اودزړه باریه یې نه سپکیږي آخر داد ومره

هسکې تېښتې - داورانې ویجارې داهغه لوډغه ته تېت او پاس کېدل
دامانورې، داطرحې او پلانونه هسې خوشې پرمخ نه ځي آخر
هسې په مفته کې يې ندې پيدا کړي کلونه کلونه يې دهرې
دروازې درشل نيولې دپرې ستومانۍ يې تېرې کړې او څو
درکاوو او دربارونه يې پلېسې غوښتې دي.

نو څنګه يې دخلکو په سترګو کې ونه ټوموې؟ دالا
کوم انصاف دي؟ دا زه خپل ځان ته نه ګورم زه هم همدا سې
يم څنګه مې چې کوم کتاب چاپ شي نو زړه مې غواړي چې هر
دوست، آشنا او پېژندوی ته يې ورسوم په اخبارونو، مجلو
اوراديو ګانو کې تبصرې هم وشي نو په ده څنګه پرې وايم
چې دآشنايانو او پېژندويو په سترګو دا خپل لوکس موټر
له دغو څلورو تېرو ونو سره ځای نه کړي - دي هم حق لري مال
يې دي هسې خوشې يې ندې پيدا کړي زړه وينې يې پسې
خوړلې څنګه چې زه کتاب خپل حق ګڼم دا موټر هم ددې همدغسې
مال دي.

خدای ج حاضر دي چې دده اضطراب او عقدو چې په ده
يې عجيبه لوبې کولې داوخت ما ته تياره تماشه ښکاره شوې
ځان مې پرې ناګاره کړ ما ويل سيل يې کوه.

دی ښه مجلسي سړی و مجلس به يې د پرکړم ساته خواوس
يې مجلس اوبحث يې خوند ه ؤ د پرخوا خپوری معلومېده لکه چې
نړه يې په څه شی پسې ختلی وی؛ ښه به يې ديوې خبرې
سر و نيو خويوار به خبره تري کده و د ه شوه ما داسې کنله
لکه چې بيا د سر خورلې موټر بيا داهر څه پرې تالا تر غه کړل
د و د ی و خورل شوه - مجلس پای ته ورسېد خلک و لاړشول -
خدای پسې مانې وشوه خو ده زه له لاسه و نيولم و رو يې رانه
وويل څه خاصه خبره لرم په زرينوکې کوز شوو لاندې يې
خپل موټر ته وکتل د ر پور يې د روازه و رته پرانيستله د ه و رته
و روغوندې څه وويل يوه پښه يې دننه کړه او په مخه ښه يې
وويل زه پوه شوم چې داهم د د ه يو بل کمال ؤ چې زه يې
پر خپل موټر د خبرونې تر څنګ ښه ډې هم خبر او قايل کړم
چې اندې وال يو ښه اداکار او ممثل هم دی.

له هغه چا سره چې زه د دوی او دوی زما په مرګ پسې کړ ځپدل

هغه هم وخت وه چې له (۹) میاشتو پوځي زده کړې وروسته یې موږ ته ډبري لیکونه راکول - دا یوه کړدجنه اوبارانې وخت وه - آسمان پر ډبرې اوتوپې وریځې نیولی وې ما داسې ګڼله چې دا توره وریځ یا د دغو پوځي افسرانو د تورو زړونو اوذهنونو عکاسي کوي اویا زموږ د راتلونکی تیاره مستقبل اوسرنوشت نمایندګي.

د باران ځاځکی لکه د یوه غمجن اوویژړلی انسان اوښکې وروروې ځمکه څه عجیبه منظرې انځورولی داسې لکه چې د چا بد بختي اوحسرتناکه انجام هغه کړې وې ډبرې اوکرښې کاږي. د باران دغه ډډه ځاځکی زموږ په نظر اودخیال

په دفتر کې د وینو له هغو څاڅکو سره د پرونې او پوښان معلومېدل کوم چې څوودڅې وروستې به زمون له سترګو څخه څڅېږي.

مات د پرون د ماپام تر ماپام راغله لکه چې آسمان زمون په حال د ماتم او سبکې لوني او زمون په بدبختۍ او تیاره راتلونکې په لپو لپو ژاړي. زمون په دغه مظلومیت او معصومیت چې د ژوند پدغه خام او اومه سړو کې د مرګ دکندې په غاړه درول شوی یوو او زمون په هغو یو عالم ځوانیمرګو هیلو او ارمانونو چې اوس به یې د مرګ یوه څرېښنا نده لمبه ایرې ایرې کړي.

زمون په ستوني کې ایله درې څلور تنه داسې وچې مازې شوندې یې شنې سنګارېدې نور ټول داسې معصومې او ننګۍ څېرې وې چې کوتې یې له قلم پرته د بل څیز د نیولو او کشولو نه وې.

په دغه ورځ زمون پر اوږو یو یو پلپټ او ستوری ولګول شو او مون داسې محسوسوله لکه چې د مرګ ټاپه یې زمون پر اوږو ولګولې وي.

مون د نهه کلونو منزل په نهه میاشتو کې وهلی ؤ او داور مو د نهه کلونو زده کړه اتومات په نهه میاشتو کې بشپړه

کړي وه خو د دغه (۹) میاشتو هره ورځ او هره ګړۍ له داسې
بوږنو وښکو خاطرو او حوادثو څخه د ډکه وه چې (۹) کلونه له
خپل اوږده زماني واټن سره دهغې د سیالۍ نه وو.

پر دغه ورځ بیا هم میتنګ ژ زموږ د بري لیکونو د
ویش په مناسبت میتنګ. موږ په دغو (۹) میاشتو کې
له میتنګه تر بوزې پورې راغلی ؤ خو پدغه ورځ داسې
راباندې تامیده لکه چې پرمړي موچارې اینبول شوي
وي. دغه وړمو پر دغه ورځ د هغه ناپایه ویرې او مرګونې
دار هیولا په زړونو بنې منګولې رابنخې کړې چې موږ وڅنه
وپرېږدو او پرېږدېدو.

زموږ هر یوه په زړه کې داخبره لکه خپله ساه داسې
ګرځېده راګرځېده چې د مرګ تاپې پې رارسېدلی، د څوند
نښته پې پای ته رسېدلی او د مرګ مهال پې رارسېدلی دی.
له سترګو مو داور سپرمغې باد بدل چې موږ د مرګ په
لوري ورمارش کوي او دوی لکیا دی میتنګ کوي
مارش کوي او چیغې نارې وهي.

موږ ته په دغه ورځ دا میتنګ داسې بنکارېده لکه چې
دچا په مړي څوک په کرس کرس خاندي او ناڅي.

مونږ هر یوه دا هیله کوله چې د تعلیم هره ورځ له کال نه هم اوږده شي او هغه ورځ هیڅ په ستر کو ونه وینو چې د کورس دوره پای ته ورسیږي. زه پوهیږم چې داخبره به د پرس راسره ونه مني چې څنګه دې سړی دزده کړې په پای ته رسیدو خوشاله نه وي او هغه دې داځل پیغام وکړي خو مونږ پداسې لار روان کړی شوی وو چې له مرګ پرته بې بل منزل او انجام نه درلود.

مونږ د تعلیم دغه ټوله موده د هغه دول ویرې او اندیښنو په څپوکې تیره کړه زمونږ ټولو اند یښنه، درد او غم یو او شریکوو څومره چې دلته پر مونږ شپې ورځې او بښتې دومره مو د دار او ویرو ونکو خوبونو کراف او چټېده مونږ هره شپه پخپل څټ د ماشینګن سره کوله بښتې او یځې لیدلی مونږ هره شپه د جا هدینو په لاس د بندي کېدو لرزوونکی خوبونه لیدل.

په وروستیو شپو ورځو کې زمونږ د خوب او ویښې دوني تو پیر نه وُپه ویدو کې هم هماوير وونکی خوبونه وو او په ویښه هم همدا لرزوونکی او زړه ریږدوونکی تصورونه او خیالونه؛ دا دول مونږ ټولو ځانونه دیو دول روانې نارو غیو

دایشاراوسربندنې دتلپاتهکیسواوویارمنوخاطروددرباب تارونه
وترنګولشيې اودده لهپاندیوهپاروونکی نغمهترې جوړهشي.
دلتهوي چې دده په زړه زیږنبلي، اووچ کلک بدن کې وینه
وغږیږي، ستوده شي، ګونه يې نورهم وپرسیږي، وینه يې په
خوښۍ راشي، تهول جذبه جذبه شي ولولې يې توپاني اواحساسات
راوپارېږي ته به وا يې لکه چې وینه ییله دېرخوښۍ څخه له
ګونډه باندې راوځي لکه ګل غوړېدلی بنکاري داسې چې سړی
فکرکوی نه يې غم لیدلی نه په ماتم ناست دی اونه يې دویر
اومصیبت کوم تریخ اوزهرجن غوړپ لهمرۍ تېرکړی داسې
لکه چې دژوند تهولې خوښۍ اوکړې سوکالی يې په همدغه
ګړۍ راغوندې شوی شوی اودده ستړګوته ښغې ولاړې دی
دلته دده سرجګ شي-شمله يې اوچته شي، ارادې يې له
کهکشان سره سرونه وجنګوي- دتندې ګونځی يې بېرته شي
دزړه غوښتې يې پرانستل شی- دسینې اسویلی يې کرار شي-
پهسترګو کې يې خلنده دیوې وځلېږي اوپه همدغه لحظه
کې يې په شوند وخندا هغه ورکې څپې خپرې شي.
سړی فکرکوي په هوا لوزي دزړه مارغه يې له دېرې
خوښۍ دسینې له پنجرې باندې راوځي اووجود يې

لوکشمکشونو په لومړۍ ښکېل لیدل .

دغارغېدو په وروستۍ اونۍ کې زهمون د زړونو درز
او ویره زمون له پریشانه څېړو او تلوليوحرکاتو له وراخرګندېدو
یوولس تنه په همدغه اونۍ کې وتښتېدل او پټو تنو دناروغۍ
په پلمه ځانونه دروغتون ته ورسول .

په مون نه هغه غوږ او خوله خوراکونه پورې کېدل لو
نه دا ډول ډول مېوې دانې ، همدغه ورېږدغو (۹) میاشتو کې
زهمون اضطراب دهر ډول پوځي مهارت له زدکړې او سیاسي
بدلون څخه ایستلی وو . مون هر یوه دا په وار وار سره ویل چې
له خپله لاسه مودخپلې ځوانۍ او خوابدونکي عمر مزې رالنډ کړل
که به ښوونکو سرونه رابانده چې هم کړل خو دا انقلاب !!
په بېړۍ یې مون دا دمن نشوای کړای - زهمون له زړونو او فکرونو
څخه دباور او اطمینان مارغه داسې لیرې الوتلې وو چې مون ته
هېڅ خبره رښتیا نه ښکارېده .

په اخبارونو او مجلو کې مو داسې ښکرول دروغ لوستې
وو چې اوس راته په پانو ولوهم نه ارځېدی او له ویرې
رابانده بدې لګېدې - راډیو او تلویزیون داسې دروغ
بادول چې مازې کوله یې هم دچا ډوډه نه لګېده - ښوونکو

لیکچر د اسې تکراري او یکنواخته بڼه درلوده چې موږ ته
پرې خپل هغه ویروونکی خوبونه او خیالونه د پښه اوارځښتا
ښکاریدل.

که هرځومره راته دکارګري نظام بګټی وغږول شوې، که
هرځومره راته د ثور د انقلاب نغاړې و د ټنګول شوې که
شپه ورځ راته د ستر شمالي کاوندی د مرستو اواکتوبر انقلاب
زېږې نغمې وترنګول شوې. که هره لحظه راته دغوږ پدلی
افغانستان او د ثور د دموکراتیک انقلاب د بری ګړانونه
کوک شول خو زموږ له زړونو او فکرونو نه څخه یې د شک،
اضطراب اونا باوري لرې ایسته نشوای کړای د اخبرې
په موږ د وهره ستغې او بدې لګېدې چې حتی هغه چې
موږ دو آتشه خلقیان هم ګنډل په کنځلو یې بدرګه کولی.

زموږ شک، ویره او اندېښنه په ځای وه د اوزموږ بې
زړه توب نه وو بلکې یو د اسې واقعیت وو چې د پښتون له موږ سره -
خپلې ستړکې وجنګولې د پښتون د موا و او د پدل چې زموږ له ملګرو
شپږ تنه دکندهار په جګړو کې ووژل شول - (۷) تنه یې په
پکتیا کې مجاهدینو څوندی ونیول او (۹) تنه په هماغه لومړی
ورځ له وظیفې ټینټبدلی وو.

په دریمه میاشت چې زمونږ پوځي کاروان دکابل-کندهار په لویه لارغزني ته روان و د مجاهدینو دیوه ناڅاپي برید په ترڅ کې پیدا سې حال کې وښیول شوم چې لا دیوه ډز - فرصت مې هم نه وو مونډلی داورځ هماغسې یوګردجنه اوبارانې ورځ وه - الوتکو ته نږدې نه وه چې خپل هدف سم په نښه کړی شي - ما ته هماغه ګردجنه اوبارانې ورځ ښه ستر ګوته ودرپېده چې مونږ ته دوژلو قومانده راکړ شوی وه اوښتن دیوې بلې بارانې اوګردجنې ورځې رادبره کېدل زما د دغه مضطرب اوتلولی ژوند ټوله ویره خته اوتغږیې وغښت .

مونږ ته هره دبره - هره پرښه اوهره شپله دبلاهغه خوله ښکارېده چې کومې یې شلولی اومونږ یې نغاړې - مونږ دهرکرځنګ او دهربوبتی شاه ته ټوپک په لاس ببرسرې مجاهد لیده چې زمونږ ککړی ته یې دخپل ټوپک شپېلی ښه نیولی وې - مونږ داسې انګېرله چې د دې وطن ذره ذره مونږ ته بلاګرځېدلی اوپه مونږ پسې یې را خیستی ده .

دا دی اوس له هغې ورځې څخه شپږ میاشتې تېرې ږې اوزه له هغه چا سره دیوه وروره شهر ژوند کوم چې زه د دوی او

هغوی زما په مرګ پسې ګرځېدل او پوه (۹) میاشتې شپه
ورځ ما ته دهغوی د دښمنۍ لکچر اکرښوی و.

اوس دسکون، باور، یقین او دا د یو داسې قوت
اووسلې زما ملا اومستي مضبوطي کړې چې پخوا تانکونو
توپونو، الوتکو او... زما دزړه درزا نشوای کړاولی.

زه اوس هم وسله په لاس په سنګرکې ولاړیم خو
پدغه سنګرباوري یم پدغه جګړه دادمن یم اوپه فتحه
اونصرت متیقن - زه اوس هم جنګیږم. وژنم اوښایي
یوه ورځ زه هم ووژل شم - خوما اوس دسکون او -
اطمینان یو داسې روح خوښ اوفعال ساتي چې زه یې
د تعبیرله پاره کلمې اوجملې نشم موندلی.

دلته امکانات، وسایل اووسلې نشته خوایمان او
عقیدې داطمینان، باور اوسکون داسې نرما تېدونکی
قوت رالوړولی چې ترهر ډول وسلې برېښن اوځواکمن دی.

همبشنی موسکا

ماچې حساب کړی نو پدغه لاره په یوه ساعت کې (٤)
امبولانس تېرېږي چې له یوې مخې په خټو لړلشوی
یواځې د چلوونکی د مخې هندارې د یوې لوښتی په اندازه
صافه ده نورنو په کردموټر د خټو خړ څادر غوړېدلی وي .
داچې په دغوامبولانسونوکې ځوزخمیان وي سړې نشي
ویلی . ددغوامبولانسونو آوازتر لېرې لېرې رسېږي اوورسره
له بورډه ترڅېرکړی اوناصرباغه په کمپونوکې د پرتومها جرو
دغوږونو اوزړونو په تارونو دغم یوه سوی چیغه کډه شي
سړی داکمني چې دامبولانس دغه سوځېدلی چیغې د دغو
زخمیانو زړکېږوی راغبرګوي خو داسې نده زخمیان هم ښایي
دخپلو پرهرونو له څرپیکو سره دامبولانس د دغوناکراره آوازونو

په وراندې دخپلو خمونو په خوله پټ پټ خاندي . د
امبولانس په غږ زړونه د زړا ستر کې ټراوه اوغوږونه یو
ټرپ انتظار په سر واخلي هر یوه ته د خپل پلار، ورور
ټره زوی او لمسی څېره ستر کو ته نېغه ودرېږي چې
اوس به د ډډ نمن په کولیو غلبیل غلبیل پروت وي او دغسې
په امبولانسونو پسې راولکي .

* * *

دلته بې شېن اووه بې شهیدان راوړي او هلته اتلس
زخمیان ، خو چې کورې د خوانانو دلې دلې چمتو ولاړې وي
او د مرګ په لوري ورځغلي آکیا دی خپل نن د وطن له سبا
لوګی کوي، داورپه باران د کولیو په ټرلیو او د وینو سمندر
ته ورداتګی لکه چې د مرګ په نوم څه نه پېژني ته به وایې
د چا په ورا روان دي او د خوښۍ دزې کوي . داسې ښکاري
لکه چې په مرګ پسې بې ارادې خیستې وي همدغسې بې
د مقاومت څېې او د انتقام اور ژبغړانده کېږي او غږغږې
وهي د انتقام دغه اور ته «وینې» د پطرولو حیثیت لري چې څومره
وینې تو ئېږي دومره د کسات د دغه اور د قهر ژبې اوږدېږي .
زه نن د همدغسې یوه ټپي سرته ناستیم ، دی په وینو

لبت پبت دی غلبیل غلبیل دی خو پرداده دی په شوندو
یې هیښنی موسکا غوږ پدلی نه ته به وایې چې په اغزی
هم ندی خوږ شوی.

دی وایي: زه شهږم چې څوک دوستان مې پوښتنې
ته راشي زه کله دومره خپګي یم داخوهسې معمولي شی
دی.

زه چې فکر کوم نو ویلای شم چې الله تعالیٰ حکه د افغانستان
مجاهد ولس د دغه نړیوال بربریت او طاغوت مقابلې ته غوره
کړه چې په دغه ولس کې د مقابلې او روسي ښکیلاک ترمانې
ورکولو ستر توان او حوصله وه هغه ولس چې محال
اونا ممکن یې ممکن وګرځول.

د مرګ پر بستر

زهاستر ګې یې پر هغه ګړۍ پرانستلی خو په کوټه کې یې
ناست کسان لا سم نشوای سیي کولی چې غږ شو شهلا ته!
ما د ویرې او وارخطایی په بر پر کیو کې لاد دې تو پیر
هم و نشوای کولی چې ګنی غږ د نر و او که دښځې.
زه به له زندان څخه د ومره ویر یدم یا نه خو د یره ویره مې
لدې څخه وه چې د کلی او کوم پیژندوی خلقي سره مې، ستر ګې
و نه لګېږي په تېره زهاد تر ور زوی چې د څرخي پله په زندان کې
«ماشیني» ضابط ؤ. خو چې فکر مې را تهول کړ د ومره پوه شوم چې
په کوټه کې کهنې نوري تر سره هم شته او چې ستر ګې مې
و موښلی نو نه مو ږ نښو و نځې د دنیات نښو و نکی را ته حیرانه او تر و ره

ولاړ وه .

زه په دې ښه خبره وم چې هغه يې دوړو له روغتون څخه سيده نرسدان ته راوستلی وه او نا روغ زوی يې په سخته تبه کې تک تنها د مرګ په بستر پرې ايښی وُ. او په دې هم ښه پوه وم چې دغو وحشيانو هغې ته دومره هم نه ووکتلی چې خپلې کورنۍ ته خبر ورکړي څو د رنځور ماشوم غم وخوري - خو په دې لانه وم خبره چې هغه لا د نړۍ له مرګه نده خبره کوم چې په هماغه شپه کې يې د بې اسرې کوکو او سختې تبې په خونړيو څپو کې د مور له غېږې او د خپلوانو له ستر ګو او خواخوږۍ لرې ساه ورکړې وه . او دا يې اوس هم د ژوند انتظار کوي. هغې تلولی پوښتنه وکړه ؟ خو ډيا سې انځان کې لکه چې د منفي ځواب له ويرې يې خبره په خوله کې وچه شوې وې زرچوپ شوه .

زه د حيرانتيا د سمندر څپو په سر اخيستی وم ما هڅه کوله چې په دا دمنه لهجه هغې ته اطمينان ورکړم، زړې خبره ورغبرګه کړم. هو! هو! هغه . هغه ښځې جوړجوړ دی - که څه هم ما د پرنړيار ويوست چې خپلې وارخطايی او حيرانی

ته د زندان د ویرې او د هشت جامې د واغوندم خوهنې داسې
راته کتل لکه چې په زړه کې وایي: نه ته د روغ وایې، هغه به
حتماً په هماغه شپه کې د تبې او تنهایی په بخ وسه سلګیر
کې ساه ورکړې وې- خومره به یې ژړلی وې خومره دوک
او نهیلی به یې ستر کوته ولاړه وې خوف به یې د مورمور
چیغې کړې وې، خو د هغه دغو ناکراوه چیغو سلګیو ساند
او مظلومیت به د بې ضمیره ماحول ویده احساس نه وې
سکوندلی.

په جامو کې نه ځایېږي. غاړه یې نوره هم دنګه شي، اطمینان باور او آرام یوه داسې جذبه یې په سر واخلي لکه چې د ژوند په هېڅ یوه کږ لېچې کې یې هېڅ یوه شکوه نه وي خو رلې او د ژوند دنا کردو اوښتو خو حالاتو پر هغه سخت پېچومې په یوه منده او یوه ساختلی وي.

دغه ټولې خوشحالۍ، دغه د ژوند اطمینان، دغه د اړمن باور او صلابت ده او بړه غمونه، ناپایه ویرونه او دردونه په مخه واخلي کله چې د قربانیو په دغه او بړه بهیر کې د ده د نیازبین دسر بښندنې پام نې رامخې ته کړي شي. دلته د ده شله دومره او چته شي دومره دنګه شي او دومره لوړه چې د شاعر په خوله د حال په ژبه وایي:

دنګه آسمانه دومره نور پورته شه
په تامې سر دا رادولګېږي

د مرحوم مولانا دوست محمد کامل

په یاد

یو درس او عبرت

لیکوال دنیمې پیړۍ نه زیاتو علمي او تحقیقي چارو او - پرمختګونو په تخیل کې د بیماری په بستر پروت دی.

محقق ته دخپلو څېړنو- حُیرنو موندنو او لیکنو اوږدې لړۍ مخې ته پرته ده، شاعر دخپل احساس او تخیل په وزرونو دخپل ژوند په هره کوښه او څنډه نړۍ لنده الوت وکړ عالم دخپلو تولو علمی هڅو انکشافاتو درس او تدریس اوږد ژوند او مکاني واټن له پیله تر پایه وکوت.

قانون پوه خپله ټوله حقوقي تجربه او صلاحیتونه له نظر تېر کړل او دغه وړې دزړه په وینو لیکلی هر کتاب او هره پاڼه ستر کوته و درېده.

دنارونۍ پر بستر یې درونده عالم، پیاوړی محقق، متعهد لیکوال - ستر کور او خپرونکی شاعر نومانده حقوقدان او قانون پوه پروت دی - شاوخوا یې دکتابونو الماری ایښی چې له زرګونو بېلابېلو کتابونو څخه یې او ښایسته دی. هلته مخامخ د هغه میز او کرسۍ پرته ده چې څولسمې او وارې کتابونه او کاغذونه چې څوورځنی نرۍ ګرد پرې پروت دی د سړي نظر ځانته راکاږي.

څنګ ته یې یوه لویه ځانګړې الماري ده چې ټول کتابونه یې خپل تالیفات او تحقیقات دی - دی یوولسم ډاګر کتابونه له نظره تېرکړي بیا یې لږه شېبه پدغه الماری اوخپلو تصنیفاتو کې ستړکی ښنجي شي - هغه میز ته وګوري اوپه کاغذونو پرتو دوروته.

په زړه کې یې دکار تحقیق اولیکنې مینه او جذبه - ځوانه اوتوپاني شي - زړه یې غواړي پاڅېږي میز ته کښې اوپه لیکنو او څېړنو بوخت شي، نه شپه وګوري نه ورځ کار اوکار. د هغه په ذهن کې د خپل علمي څېړند څېړنې هغه تحقیقي چارې یوه په بله پسې تېرې ببرې شي چې هغه یې د بشپړتیا به اوتکمیل هیله اومینه لرله، زړه یې په

توپونو شي او ځان سره وايي: نه دا کار ونه بشپړول غواړي، بايد کار پرې وشي. هغه بايد ضرور تکميل شي د دغه ځيرنو او موادو سند ونه او راز ونه له ماسره دي. خو صحت ورسره ياري نه کوي. هغه په دې زحمت ولاړ شي. مېز ته کښيني ځوکر ښې وليکي خونور به يې کوتې وچې او ستړې شي دا کتر هغه له ليکلو منع کړي خو دي د ژوند روح او ساه ليکل کښي، دي وايي چې که ليکل او ځيرل پرېږدي نو هغه ژوندي په څه دي.

دا کتر ورته د مېوې د خوراک او استعمال توصيه کوي چې مېنې او انګور نړيات وخوري خو هغه ستړې له او بنکو د کې شي دا کتر داخبره د هغه بې حسي او بې دردي وکښي په ژړغونې غږ ووايي: آخر زه څنګه د کابل انګور او مېنې وخورم دا به څنګه زما له ستونې تېرشي. هلته زما د وروڼو او عزيزانو د وينو سيند بهېږي ما ته د مېنې سور رنګ د خپل شهيد وروروينه بنکاري زه د مېنې په سره رنګ کې د هغه وينې تصوير ګورم چې زما وروڼه په غرونو کې شهيدان شوي وينې يې ځمکې زېښلې، واورې او باران د اوينې له ځان سره دريابونو او وبالوته وړي اوله هغې نه باغونو او دونو جوړ واو مېوو ته رسېدلی دي د مېنې سرخی ما ته د هماغو وينو

نخښه اورنګ ښکاري .

داڅوشاعرانه جملې اوکلمې ندې دادیوه متعهد عالم، لیکوال محقق اوویناوال دزړه درد، داحساس ازانګې اوګ د - ضمیرغږن او داحساس انځور دی چې یو درس هم دی اوعبرت هم.

دهغه عالم لیکوال - محقق اوشاعرچې ټول عمر یې د بیداری اوحرکت دعوت چلولی دحق غږ یې پورته کړی اوداسلام بلنه یې خپره کړیده .

(په کوریې نوښه)

آخر داځنګه!

فلاینګ کوچ ګرځندی او آرام روان دی - سیټونه ښه پراخ او پاسته دي ، دایرکنډیشن یخه هوا لکه د پسرلنۍ سهار نسیم ښه په خوند کې چلیږي ، ټیپ ریکارډر د هندي فلمونو سندرې غږوي ، آرامه خاموشي ده داسې چې زه دغه ماڼۍ کوډې کرښې لکه په هوایي جهاز کې په اسانۍ سره لیکلی شم . خو زه ښه ستړی یم نو هیڅ ولې ؟ ما کلونه کلونه دغه اوږده واټنونه وهلي خو داسې ستومانۍ مې نه ده لیدلې زه هغه وخت هم پدغه لاره تلم راتلم او همدغه منزل مې کاوه چې په هغو زړو رجې بټې ایس بسونو کې به مې (۳۵) کلداري ټکټ کاوه ، تاسې باور وکړئ هغه وخت د موټرونو ګرځ او ګروز د دغه ټیپ لرسندرو په مونږ ښه لګیده ښایي زما هغه دوست زاهدي صیب ته ښه یاد وي

چې د دودۍ لپاره فلاینګ کوچ ودرېږي او
سړی هوټل ته خبرې ونه دروازه کې ولاړ وي. له ډیوې جانانه خندا سره دروازه ببرته کړي د
هوټل ماحول د پرشاعرانه دی پرکړکیو ښکلي پردې
خړې دلی، رنګین څراغونه ـ عاشقانه اشاري او ستړکونه
وهي د بې ساړه منظري د سړي نظر خانته راکاږي
میزونه او څوکۍ ښې منظمې او لکه د کلونو غنچې ایښودل
شوی ـ مستخدمین په ادب او نزاکت د سړي مخې ته دمې
پرسر قابونه، قاشوغې او... منظم کېږدي سړی حیران
شي چې دیوه څانښت دیوه تن دودۍ او دومره لوښې او
ترتیبات. د هوټل ماحول سړي ته په داستانونو کې د
اروپایي قهوه خانو او کافو برو بنه ستړکوته دروي.
خوزه یې په خوند نه پوهېږم. ماهغه وخت هم د دغه
لارې په هوټلونو کې دودۍ خوړله چې په کټونو به
کښاستو او د هوټل مخې ته به د پره کنه کوله وه هغه
وخت چې د جسک په ځای به مو د غوړیولو تش دبې څخه
اوبرا خیستی.

زما هغه وخت هم یادشي چې بیا مود (۳۵) روپیو په

ځای د(٤٥) روپیو د یلکس بس تکټونو ته خبرورسیده
او دا دی اوس دسلورو پیو فلاینګ کوچ ته .

حیرانی ده چې څنګه او داځه ورکیسه ده . داکوم
احساس وُ چې هغه وخت یې په دې برونتنګو او سختوشرایطو
کې له موږ څخه ستومانی او ارامی هیره کړې وه .

هله چې نړۍ پوهیدو اونه په مندو ستړی
کیدو خوږو نه پوهیږم داځه چل وشو داد چاله
لاسه داځنګه ؟ رحمان بابا وایي :

زه دا هسې دیوانه اوبجنون چاکړم
له رواجه له رسومه بهرون چاکړم
توان، توفیق خود فتنو راځخه نه وُ
په فتنو د تورو ستړکو مفتون چاکړم

ترهبدلی انتظار

له پخوکلونو وروسته یې لیک راغلی وُ پدې شپږو کلونو کې
ګڼې پیښې راڼخ ته شوی دی - په دې موضوع ونډیوکلی وو ان
شوی وو او په دې موضوع هډیرې وکې وې.

د نن (۱۵) کلن هلک هم د وطن د دفاع په غزا کې لکه هغه
نخامخ غر کلک اوکړ ولاړ دی پدغوښې شپږو کلونو کې دومره
بدلون نه راغلی چې په عادي شرایطو کې ورته د کلونو اوږدې
ضرورت و. سړی هیڅ تصور نشوای کولای - هغه دولس عام
وکړی هغه په کور کې بند یوانې مستورې تورسرې او هغه اته کلن
ماشوم هم دومره شعور او بصیرت پیدا کړې وُ. چې دوخت او -
وضعې په مزاج او نبض سنه پوهېدل. د انقلاب په کوره کې داسې
آبدیده شوی وو چې د حالاتو په دوړو او خوښتیو کې یې خپل منزل

اومنزل بنه پېژندلی اویون یې لنډولی شوای .

زه (۵) کلن ماشوم دلیک لوستولـه پاره لاس نیولی کورته ورسولم پاکټ مې پرانست او پرکاغذ کې مې ستر کې ښخې کړې . لیک مې سر تر پایه ولوست د هغوتولوپه څېرو کې استفهام او سوالونه یوپه بل پسې کتار معلومېدل د څلورولویو وروماشومانو څخه او معنی دارکټل د هغوی د څپانده تلوسې څرګندونې یې کوله اودیوه تر هېدلی انتظار نمایندګي .

هغوی ټول ستر کې ستر کې اوغوږ غوږ وو، زړونه یې دسینو په قفس کې پرله پسې درزېدل د هغوی دناکرار اوبوږنوونکی - انتظار لحظې مابنې مرکبولی شوای د هغوی له اضطراب څخه دا څرګنده وه چې په لیک کې د خپلو هیلو اوارمانونو د انتظار پرخلاف څه اوري درېیو ماشومانو خپلې مورته اوتراوترو کټل لکه چې هغوی پوهېږي هم نه وي پوهېدلی او د خپل اوږده انتظار دامید یو تت سپرغی ترستر کو شوې - دوی خپلې مورته پداسې معنا دارانداز کټل لکه چې ورته وایي : پدغه لیک کې خو هغه څیز هېڅ څرک هم نشته چې زموږ ورته تنده اوتلوسه وځکه خو داتلوسه له یواتکل شوی اوپېتې ویرې سره تړلی وه.

مورې چې د هغوی د پېتې خولې په سوالونو بنه پوه وه

د دغه بوښ نوونکی سکوت منی الله ﷻ ، موږ د خدای ﷻ له
داسې ویرې او بې شرمۍ څخه ساتی ورته ولیکه موږ دې خدای
ستاد روس او پرنګی له منو چې چوڅه په امان کې لري زموږ
خپل وطن خپل کلی خپل دین او خپل قرآن دی - که مسلمان یې
نو خپل کلی او ولس ته راستون شه که نه په روس او انګریز
کې له موږ نه ډېره صبر کړه ستا خارج دې ستا روزي شی - زه
خو په خدای ﷻ چې روس او امریکا دغه اپلو کلی هم شي یوپل
یې رابانديې حرام دی.

یواځې یونوم

هسې خو هره شپه هر یوه دا کهنه چې نن کنې زما وار دی او چې څنګه به د شپې تور څادر د غوربند نرد دروازې په ښرته کښته وبه د هر یوه ستر کې په مخامخ پوځي کې ښخې شوې زهرونه به په توپونو- غوبنو نه به څڅک او ستر کې به ښې ځیرې شوې- د هر یوه په زړه کې به دا کر څښده چې اوس به مؤظف پوځي د کاغذ له مخې دده نوم اخلي- دی به د مجبورۍ په هتکرو کې له ځایه پورته کښته او خپلو اندیوالانو ته به د بې وسې د سمندر په څپو کې د روستی دیدن په اسره کوري.

کله کله دا هم پیښیده چې د پوځي له څېرې سره د سړې په غوبنو نو کې هسې د خپل نوم از انګه لکیده، چې اوس به د حق په جرم کې مرګ له خونړي هیولا سره ستر کې جنګوي- دا هې

یادونه

ما چې دلومړی ځل له پاره لغه پوښتنه وکړه چې «لاله دا ته یې نوم څنګه بندي کړی یې؟»

نود هغه صدیق غاښونه دخپلو ببرو وبرېښونو نه اخوا وځلېدل - بنې لاس یې خپل شین رنګی دستار ته ونیو - دوپښتو ډک لاس په سر وند کې یې د نقریې بنګړي ځلا یې د تورو او ببرو وبرېښونو نه د سپینو غاښونو له ځلا سره غبرګه شوه وییې ویل:

«مسلمانی په جرم - نه کوری چې زما د دستار رنګ شین دی. هغه داخبره دا ډول کولې لیکه چې په سر ښتیا سره په همدغه جرم (۱) نیول شوی وي. دی به له دغه یادونې سره داسې وغوږېد لکه چې پر دغه کار وهه د زړه له تله معتقد او پر دغه نه کړی ګناه او بند ډېر وپاري.

دی پدې خبره د پرخوبن معلومیده چې وایي: زه یې
د شین دستار او مسلمانی له امله نیولی یم.

دی د دستار شنه رنګ د پرخوشاله سا ته، ویل یې
که لدغه زندان څخه ژوندی ووتلم نو د تل له پاره به شین دستار
په سر کوم.

ده د (۱۳۵۸) لمریز کال د کسب پر دریمه پخپل کور کې د شپږو
تپیانو دار و درمل او پالنه کړې وه چې د دستار شنه رنګ د ده
د دغه اتهام او جرم یو بل ګواه او سند وُ چې ده د کنا ګپتې
یې نور هم درونه کړې وُ. خو دی پدغه اتهام ګناه او جرم
د پرویار من وُ خوبن وُ او داده او چې هرڅل به نوی
بندی له ده څخه د تعجب په څپوکې د زندانی کیدو د علت پوښتنه
وکړه دی به داسې خوشاله معلومیده لکه چې من من غوښې
اخلي په تېره چې د دستار د شنه رنګ خبره یې کوله.

زما د پېښور په مشرقي ورځپاڼه کې داخبر ترستر ګو شوچې،
یوه سکه کورنۍ له افغانستان څخه پاکستان ته راوښتله د دغه
کورنۍ د سپرلی پر موټر د لا الٰه الا الله محمد رسول الله شین
بیرغ رپانده معلومیده ما ته د زندان د هغه سردار (لاله) احساس
او د شین دستار خبره او خوشالي راپه زړه شوه چې ویل یې که له
زندان څخه ژوندی ووتلم نو د تل له پاره به شین دستار په سر کوم.

وسله هغه ده چې په لاس درغلـه

لومړی خو يې تر ډېره باور نه کېده - بيا ورته ځير شوم
بيخي بل ورځ شوی وُ په ريښتيا هم غريبي بد شی ده - زړه
نا زړه مې پرې غږ کړ - دی ودريد له خولو لوند خيشت
وُ شوند ويې نړی پتری نيولی و - جامو يې له ډېرو
خولو سپين غوجر ايستلی و اوخاپ خاپ وې.

مرکی خو بيا دی پرده پوش دی
ورکه نه ښکاري شه چې سيالان بدرنګوينه

ما په حيرانۍ کې تر ډېره پورې ونه ځنډه وکړه : داولې څه
درباندې شوی - ده لومړی راته په کمکجن نظر او حيرانی
سره ځير ځير وکتل - بيا يې په ډېر اخلاص روغبړ ته غږ
پرانسته خو نوره پرې ونه سپېده دستی يې راغبرګه کړه.
بس دژوند دود ، دستور دی ، نه کېږي کنی والله

که مې له چا سره ستړې مشی ته هم رغبړې. داسې نه ښکاریږي
لکه چې د کیلومانو نیولو درونه پښتې یې پر اوږو پروت
وي. ما په کراره لکه چې د ده په وړاندې دیوې ستړې
ملامتیا وړ وم پوښتنه ترې وکړه چې څه دی. څه خبره ده،
خو ده د پرتو راخلاصه کړه تاسې غوږ غوږ کړئ او..

دلته مالبن په زیږه لهجه وړته وویل دا ته څه وایې
که زموږ له حاله خبر شې پخپل حال به شکر وباسې. یواځې
ته نه یې په لکونو هېواد وال دې د ژوند ستونزو او حوادثو
ځپلی دی اجر به یې له خدایۍ غواړو له خدایۍ سره خو قدر شته.
خدای ج، به خیر کړي، داستونزې او محرومیتونه باید په
صبر او سړه سینه وزغمل شي په انقلاب کې خو دا ربړې او
سختۍ ضرور راځي. ده په خپلو وچو شونډو د وه ځله ژر
ژر شهه تېره کړه وې ویل. داسې نده. پدې زه
هم سنه پوهېږم مابل شی درد وي، سړه اور واخلي.

ته خو مالبن یوه کړه چې زموږ قصور څه دی ما په
دې مظلومانه لهجه وړته وویل. هغه له لاسه ونیولم د
سړک ښې کونې ته د دې وال سیوري ته و درېدو په
څادر یې خپلې خولې وچې کړې له یوه اوږه ده اسویلی وو وسته

چې د ده دنا کرار او مظلوم ژوند زموږ د لیدلی روح یې
پوکاو ، وویل :

وروره له نن شپې راوه کاله څکې وضعه داسې نه وه
نه داد ومړه بهرنی مؤسسې وې چې دغه ډبل معاشونه ورکړي
اونه دانوري د مرستې درجن درجن اداري چې دهغه او دغه
ټولو شپه پکې تېره شوې وای.

بس همدغه تنظیمونه وو او همدغه یې دفترونه او
همدغه دسولنې معاشونه؛ هرځله چې ووبیا هم هغه ښه
وخت و- سکون و اطمینان و احساس وقناعت وله هدف
سره مینه وه او تعهد و.

خوله ډېره شامته په هغه وخت کې هم له هماغه
اوله پدغو دفترونو کې ځینو داسې فرصت طلبانو ځالې
جوړې کړې وې چې دهېڅا نه و بس، دوخت یاران وو
اوزمانې آشنایان.

وروره ما هم ځان ته تعلیم یافته اوروشنفکر وایه ما
وې که له سنګره راالوځی یم دا دفترهم سنګردی -
بس کار ته مې کوندې ماته کړه میاشت نیمه لاڼه وه
تېره شوې چې د مخالفتونو او دښمنیو په جال کې کېوتم.

بس دغه خپل مات کړ. تعلیم او پوهه راته او ویشوه که زه
داسې خبر وای خان به مې غلی نیولی و، او خپله شپه به مې
تېروله خوله جهاد سره میني او علاقې په کارنه پرېښودم
او بې له کاره رابانديې وړځ هېڅ نه تېرېده - زما داکار
او دا نیمګړې استعداد نه وتندرو چې په دغو عناصرو
راپرېوت.

که ربنتیا ووایم ملامتی زما هم وه چې دوخت په
نبض مې هېڅ سرنه خلاصېده - په دغه اداري چلند، دنګو
اوفرکسیونبازیوله سره پوهېدم نه - ماوې جهاد دی او د
دفترکار، دادی کوویې، تورمولې چاسره کارشته دی
زه څه خبروم چې حُسینې خپل لوړوالی دنورو په لوبدوکې
لټوی او خپله ناپوهی پدې پټول غواړې چې دبل دکار
او استعداد مخه ونیسي او وې ټکوي.

بس دلته وُچې د تشو خبرو او ادعاګانو ماهرانو چې
دا استعداد او پوهې افلاس خطونه یې په جیب کې کړحُول
راپسې راواخیسته - دنه کړې ګناه په تورې ونیولم
څومره چې زه دډېرخدمت ورکړحُېدم د دوی شمېر او فعالیت
هم زیاتېده. وروره دښمنی یې په دښمنی هم نه ګډوېده چې

راسره مخامخ به شول د داسې پخې مینې له مخې به راوراندې
کېدل او د داسې مینې او اخلاص څرګند ونه به یې کوله
چې له ما سره به یې زما په غیاب کې د هغوی د ټولو
تهمتونو او ناروا تبلیغاتو په اړه نا باوري پیدا کوله
داخو لاځه کوې چې زما په صفتونو به یې خولې هم
سترې شوې.

خو په غیاب کې به یې چې څه ټول، تهمت او بد رد
پیدا کول صرف یې نکوله لومړې خو مسا دا ذ دوی له بېکاری
کنله، ما ویل خیر کوندی د څه کار جوګه شي بیا به خپله
له دې غیبتونو څخه وا وړي - خو خبره داوه چې دوی دکار او
استعداد کړسره وونه نو بیا یې د خپلې بېکاری اوناپوهی
د توجیه او زما د کار د ځنیوی له پاره بله لار نه درلوده.
بس هسې خوشې بې موجبه به یې راته کنده کنستې
د دوی د حملو جواز او زما د ګناه ثبوت دا وچې د
دوی له خولې ما تحریکي سابقه نلرله !! فکری سړی
نه وم !! او همدغه حربه یې زما په مړی اینبی وه
آخر دا تحریکي وي څنګه ؟ که دوی تحریکي هغه ګڼي
چې په کومه مظاهره کې یې څوقدمه اخیستی وي نو

ما هم له بګرامیو تر زرنګار پاره که دغه مظاهري دپرې
بدرګه کړې او دپرنهنده باد اومړه باد چیغې مې وهلی
دی او که داجهاد معیار کښې نوله لومړې ورځې ورسره
دا دی مل روان یو او که دنظر پې او نهضت خبرو وي
نوراځی دې چې وګورو چا پدې لارکې مؤثر او دپرکار
کړې او کوي پې .

آخر مې زړه سلا راکړه چې پرپرده دا دفترونه دوی
ته . څه دوطن غروبنه او سنګرونه دې آباد وي دجهاد مخه
خودې چاندنه نیولی . بس ته به وې ټوپک به دې وي او
ددښمن ککړی .

نوربله دغو ټولو جنجالونو بې غمه وې - آزاد به ګرځې
خپل وطن به دې وي او خپل زړه .

څه سر به دې خوب وم ګورم بمبارییو راننګر
او دا دی دا پنځه شپږ میاشتې کیږي چې په یوه نرۍ
خیمه کې مې اړولی بله چاره نه وه دفتر په دفتر وکړ څېدم
ماویل راشه پدې مؤسسو هم یو چکر ووهه .

خودوخت په تیریدو حربه هم بدله شوې وه ، زه څه
خبروم چې دلته څنګه یهرفي موسسې او اداري جوړې شوې

او د والـرو اومـارکـونـو بهـیر پـرې رامات شـوی دوی بیا
دوخته ځانونه وروسـولی او په هغه خم کې یې وریتـرې کړیدی.
که کورم له هما غوز زړو یا رانـویـو دوو په دغو مـوسـو
کې سـنکرونه نیـولی - چې وریته وکـورې نو پخپلو سـترګو
حواسـو او حافـظه به د یې شـکـ راشـي - داسې بدلون اوداسې
تغیر چې دسـرې هیڅ سـاوونه کـیږي. اوس یې چې په سـتن
وتومـبې هم د تحریکـ لفظ به تـرې وانه وریې چې فکر اوماغز
یې په کمپیوټر کې وکورې نو د تحریکـ په نوم به څه پکې ځموې
هغه چې تحریکـ تحریکـ به یې لکه ورد په خوله جـاري
و اوتـره چاره یې تـرې جوړه کـړې وه نـن ما پدې غندې
چې اخـرانې یم - داځـل یې د دغه کـولی نخښه کړ ځولې یم - او
نهـا د تقرر عریضه یـې پدې مسـترده کړې چې اخرانې دی.
ماویل وروره نـدې دی اوربـدلی چې وسله هغه ده
چې په لاس درغله.

ژوړا حساس

نړۍ تېر ما سختتن دزندان له توري وسپنيزې دروازې څخه د (۲) بلاک (٤٤) مې کوټې ته د مؤظف صاحبمنصب له دغسې یادونې سره تسلیم کړې شوم ؛ عبیدالله ولد خیرالله ساکن لوګر متعلم صنف (۱۱) لېسه حبیبیه .

ما داسې کنډله لکه چې دزندان ویښې هرڅه راڅخه هېرکړې او حافظې راسره نوره یاري شلولې ده ؛ خو یواځې یوه سوچ پدې کراوجن او ویرونکی وخت کې هماغسې زما پر ذهن منګولې ښخې کړې وې چې :

لس کاله مخکې به زما وروړد دغه زندان په کوم بلاک او کومه کوټه کې د ژوند څوورځې څه ورځې تېرې کړې وې هغه مهال چې زه ایله د (۷) کلونو وم .

به کله یو نیو یا دوه دوه کسان له موږ څخه جلا او په ځای
پې نوی مېلمانه نړېدان ته راوستل کېدل او دا ورپې لږ غه
ځای څخه د تورو شپو په تورزړه کې دکمونیزم دوحشت
په سر وبر بر کیو کې دژوند له خوږ وبې برخې کول.

هغه شپه چې پوځي راغی نو یراڅې یو نوم پې واخیست،
احمدشاه - هغه چې پرون ماښام زموږ کورته ته راوستل
شوی و او یراڅې یوه شپه اویوه ورځ پې له موږ سره تېره
کړې وه هغه سملاسي له ځایه ولاړ شو شاوخوا پې تول
له نظره تېر کړل لکه چې څه خبرې پې په زړه کې غورته پاته
وي - موږ ته د دې پوره احساس و چې نن هغه کوم
خیال دغو ځیر ځیر کتلو ته ارکړې - خړ یخونی ستر ګې پې لکه
په کومه ورکه پسې یوه اوبله خوا اوترا وتر غږېدلی هغه دکوټې
په هرکنج او پیڅه خپل نظر راغبرګ کړ داسې چې هغه به بیا
دا کوټه دا پنجرې او دا اندیوالان هېڅ ونه وینې، په ستر ګو
ستر ګو کې پې له ټولو سره خبرې وکړې - داوخت پوځي بېرته
راغبرګ شو د دروازې له بېرته کېدو سره دباد یوې سړې څپې
دهغه خرمایي وېښتان پرتندی راخواره کړل - د پوځي په خوا پې
درې قدمونه واخیستل موږ دهغه وروستی دیدن ته ناکراره وو

موږ ته بیا نور د هغه هیڅ پته ونه لګیده خو امین دواکنی
پر لومړیو وړځو مو د داخله وزارت ترمخ په ځړول شوی
لست کې د هغه نوم لیدلی وُ.

زما د ذهن په سمندر کې دیادونو همدغه یوې بوږنونکی
خاطرې لنګر اچولی وُ داسې لکه چې نورې ټولې خاطرې او یادونه
را نه له زندان څخه دباندې بېل شوی او همدغه یوې خاطرې
خو ترڅې او غمناکې خاطرې راسره ملګرتیا پاللې وی:

زما د ورور څېره چې غټ دنګ او قوي ځوان، کتابونه په
لاس له کوره وځي او پوهنتون ته ځي له هغه کوره چې بیا تر راوړنه
کرځېد اوله هغه پوهنځي څخه چې د زندان میلمه کړي شو. زما د
ذهن پرتخته او دستر کو په پرده انځور وه - هغه چې زما د خوشحالی
له پاره به یې راسره لکه ماشوم لوبې کولې او ما به دا کنله لکه
زما ه ځولی ماشوم؛ تر دې چې له کلي دیوا ځېتوب اوله همځولو
ماشومانو نه د محرومیت احساس هیڅ ونه ځور ولم.

ما د زندان او آزادۍ په پس منظر، رنګونو او کیفونو سم
سوچ نه وکړې او د ناستو کسانو په څېرو کې مې د دوی د شخصیت
یو کرښه څه چې یو ټکی هم نه ولوستې چې د و عسکرو یو ځوان
کوټې ته راد ننه کړ. هغه پرېښې پرځمکه ولوېد - زه خپله حیران

وم چې څنګه دخپل محجوب محتاط او منزوی خوی اونابلد تیاو
پرخلاف ستر پتولو مخکې دهغه څنګ ته کښاستم .

زه هغه وخت هیڅ پوه نه شوم چې ولې مې له هغه سره
دومره ژر دا ورډمینې او خواخوږی منزی وغږیدل خو دومره
مې وانګیرل چې یو ډیر ژور احساس مې دهغه لوری ته کاږي د
هغه سر مې پر زنګون تکیه کړ. وچ کلک زهیر مخ یې تکې تورې
ږیرې نیولی وُ، پراخه سینه یې توله ویښتو پوښلی وه.
د پوښتیو هډوکی یې داسې ختلی معلومیدل لکه دچت دپاسه
د تیرو نولرګي. دسر کرکوټی کرکوټی ویښتانو یې د زمنځې
له کوټو د بې شانه استغنا څرګندونه کوله. دغټو اوخړخړنو
ستړګو په زهیر موکې یې دوینو خاپونه له وراځلیدل دغوږونو
په شپیلیوکې یې ډندې وینې وچې شوې وې زما اوس سنه زړه
ته ولوېده چې هغه یې له تحقیق څخه راوستلی اوپدې هم پوه شوم
چې د هغه هره شپه همدا حال دی. زهما په خیال کې د زندان
هغه د وحشت ټولې اوږیدلې کیسې لکه دفلم پرده یوه په بله
پسې ژر ژر اوښتې راوښتې.

د هغه ستړګې پټې وې لس پنځلس دقیقې وروسته به یې
د «الله» له نرۍ زګیرې سره شوندې وښوړیدې مازې دومره

چې ایله ما اوربدی شوې.

په کوټه کې ښندیان داسې بې دمه او بې حرکته ناست وو. لکه چې ساه پکې نه وې داسې چوپ لکه چې کونکیان وې او د ویلو له پاره هیڅ دول آواز ونه اوشاري نلري. زهو بن شاوخوا داسې بې دمه راپنډ وو چې یواځې دسترګو مظلومانه او له حیرانۍ څخه غږولو. بې دا بنډله چې دمه پکې لاشته او دوی په ژبو اواشاروو نه بلکې په سترګو کې یو له بل سره خبرې کوي.

ساعت نیم وروسته هغه سترګې وغږولې، ماته یې په ځیر ځیر او غږ ته غږ وکتل - مینه ناک او معنادار کتل، زما لاس یې پخپل لاس په دوه زحمت سره ونیو - نوروهم ځیر شو، ډیر د بدلی لاس یې او بدکړ زما د مخ هغه پخوانی درنځم خاپ ته چې په ما شوې متوب کې مې وروړغور ځولی وم او بیا لکه یوه ښځه زما په مخ کې پاته وُ - لاس یې ډیره خپلو شونډو ته نژدې کړ لکه چې سنکلوی ښې - لدې سره یې سترګې ډیرې ته وغلې او بیهوشه شو هغه بیا سترګې ونښوای غږولی او دشپې په وروستیو شیبو کې یې زما پر زنګون ساه ورکړه.

سهار چې مؤظف ساتونکی راغلل نو دغو خبرو د زندان په تیارو او زما د خوږ من زړه په پرهر وونو کې یوه بله هنګامه

او انکلزہ خیرہ کرہ چی :

وحید اللہ ولد خیر اللہ ساکن ولایت لوگر محصل -
صنف سوم پوهنځی طب .

بې وسه اوښکې

نیوهېږم څه وړ خیالونو او سوچونو په څه اخیستی
وم چې بس د خیبر هسپتال پر تم حُی ودریدم.

له ما څخه یې دوه کلیوالې زهرې افغانۍ سپینې سرې ناستې
وې پر تم حُی لدغوسپین سرو په یوه یوه عجیبه او بوږنوونکی
احساس خپور شو هغه په وار خطا یې، اضطراب او یوه معنادار
او درد وونکی بڼه له څوکی ولاړه شوه تلولی تلولی یې د
روغتون شاوخوا له نظره تېر کړل په حُیرحُیر او کرکجن
نظر یې یو حُل بیا ستر کې وروړولی داسې لکه چې له روغتون
څخه یې د کیلې او انتقام سپرغمی له ستر کو څخه باد شوی
وې د ستر کو په کونجو کې یې داوښکو څو بې وسه خړپاڅکی
دندې شول چې له کېنا ستو سره یې یوه یوه دکرې وانه لاړه ونیوې

د څنګ بوډی ته چې د هغه وینه هم د دې غوندې غمونو
اوکړل او وینو زیښلی وه او پروچ کلک زبر یخ یې د د زړه وینې
شمېره لیکې ځغستلی وې په د زړه وینکی انداز اولغړیو
د کوغوڅو تکرکې وویل: لدغه شفاخانې مې یې مړې وینې ست
بیا مې هغه وراندې کوپتو ته یوړه اوله هغه ځای څخه
مې هدیرې ته...

وینه نه وه ـ لسمه وړځ یې وه د وګولی یې پر بنی
اوږه لګېدلی وی او نور بدن یې د بم پارچو غلبیل کړی وُ.

د څنګ بوډی هم پدغه وړغوڅو او غمل لوتکو د
دې خبرې بدرګه کړه. او ما ته داسې زیات کسان ستړکو ته و درپدل
چې د دې وینې یې په رګونو او موټرونو کې چلېږي....

غازي کلا

د دوو دوونيمو سوو کلونو لرغوني کلاده چې دا
ټوکوس شپېته کاله بې استوګنه ده د پخسوسوريې يونيم
دوومتروته رسېږي ځلور برجونه لري چې دوه يې له هغه
غربي ديوالونو سره پخوا د زمانې سره تر دونړولی دی.
هغه يوبرج يې دا سې معلومېږي لکه چې د پرپخوا
نړېدلی وي اله دغه برج نه يواځې د خاورو ويره وړه غونډۍ
پاته ده اوبس.

کلاته چې سره کوري نو پخپله د ډيوه زاړه تاريخ
درازونو اوسرګذشت شاهده اوساتندويه ښکاري،
داسې چې پخپله نېږي سره د تاريخ کومان کوي چې له
تېرو تاريخ سره يې پيوستون له نامه هم جوت دی. دغه
کلا ته غازي کلا وايه شي چې د پېرنګی د تاراکونو پروخت

دغازیانو د جرګو مرکوزګای وُ.

دلته به غازي محمد جانخان او د ده فاتح اندیوالان سره جرګه کېدل او دازادي اوخپلواکی دنا وې ټندی ته به یې خپلو وینو د خال اېښودلو پېښکښونه کول - د کلا والن د هوالونه او - نړېدلی برجونه دحال په شهه دازادي تارتار پېژندترانې په خوله دتېر عظمت او پرتم زاړه پلونه په غښتنه کوي داسې چې د دغه کلا هر دېوال، هر برج هر کوټ او هر پل د تاریخ دازادي د بریمن جنګ ډرسونه او عبرتونه له ځان سره خوندي ساتي.

دسرک ارخ ته د کلا یواځینی روغ برج لکه د دغه ولس دهمت شملې جګ ولاړ وُ خوک ځه پوهېدلی چې پر دغه برج څنګه د زمانې د حوادثو او طبیعي مصیبتونو زورندی رسېدلی او د دغو ترلوپه وړاندې یې مقاومت کړی دا سې لکه چې په غاړه یې یوه مسوولیت پروت وي او ده یې ادا کېدنې ته د زړه په زور ځان تېنګ نیولی وي، یا له ځان سره د تاریخ یوه پته حادثه او حاسه ولري او یا یې یو امانت پخپله سینه کې داور ساتلی وي چې د سپارلو له پاره وخته اهل ګوري.

څوک پوهېدلی اوچا دا فکر کاوه، زاړه دېوالونه وو
څه نړېدلی اوڅه دنړېدو په حال اوېوه برخه يې روغه
چې دزمانې په تېرېدو به هغه هم دخاورو په ېوه غوندې
بدله شي، څوک څه پوهېدلی چې د دغه تاريخي ويجاړې کلا
دک زړه به هم تشېږي څنګه اوڅه وړ.

خلکو دا کلا او دا لوېتې لوېتې دېوالونه نور د
هېڅ دول ګټې ور نه کېږي د هېڅ دول ګټې تصور
او اميد يې نه وُ پرې تړلی داسې يې ګڼله چې چا هلته
اوسېدونه هم زړه نه بنه کاوه.

خو داسې نه وه - دغه کلا که سل دوه سوه کاله
مخکې د وطن د آزادۍ او دين د سرلوړۍ د معرکو او د
غلنړيانو د اتلوالي شاهده وه او د آزادۍ د دښمن په ستر ګو
کې خار او په زړه تېره توره وه - که دغازيانو او سرښندونکو
دايماني پرتم ګواه وه او که د خدای د لارې د جنګيالیو کور
وُ. نو اوس هم هاغسې وخت او دوخت همغه وړ غوښتنې
زړونه او ذهنيتونه راپاروي ځکه خو به دا کلا د نن
ورځې له هغه زاړه پرون سره ضرور نښلوي.

د ۱۳۵۸ لمريز کال د روژې په مياشت کې چې د آزادۍ

د جنګیالیو مقابلې ته د زور او وحشت په نشه مغرور روسي
قوه سیمې ته ننوتله او دایمان او باور د سخت جنګ
جریان درلود، د غازي کلا هغه د سرک (روغ) برج چې
په پته خوله ننداره کوله، نن بیا د وخت یوبل —
بنکیلاک ګلر پدغه خاوره تیری کړی او نن بیا دغزا او
جهاد توره برښنې په ځلیدو دی.

روسي وحشیان په زغرورو تانکونو سپاره کلا ته
راورسیدل - د مخې تانک چې (۸) تنه روسي پوځیان
پرې انښتي وو برج ته نژدې شو برج ته ورسید. دلته
د برج زړه له دوکه تک وچاودا و پردغه تانک راپریوت او
تانک چې له (۸) تنو روسي یرغلګرو سره دخپلو دبالونو
په میچن دل کړ او دغه ورځې دننه کرښه له هغه
زاړه پرون سره ونښلوله.

خاموشي په يوه ښوی او معنا دار انداز کې په ټولو بلاک خوره
وه - ما حول سلکی سلکی ژبندیان لکه بوټان په سرنوستر کو
هک ګیران پخپل ځای ښخ ژ - سوبن ویل د ریغه دومره خو
پوهېدلی وای چې د احمد شاه به له سوبز سره دالومړی اوورستی
شپه وي چې سوبز ټوله ورځ هغه ته کتلی وای - دلته سوبزته
ځانونه نور هم بې وسه او مجبور بنکاره شول تر دې چې یوبل ته
مرد لیدلو سترګې نلرلې ځکه خو هر یوه دک زړه پرخپل مخ
زړې او خیرنې کمپلې راکاږلی داسې چې کښې سوبز نور نو د
خپلې مجبورۍ او بې وسۍ له شرمه یوبل ته نشو کتلی دهغه
د ځوانۍ په بام د شباب وړانګو هدا اوس اوس وزړي غوړولی
وی داسې ځوانۍ او دا وړ حسن چې طبیعت یې کښې په انځور نه
کې خپله شهکاری ښیي، ده به خپلې کوټې لکه د بن ونځې بناخونه
په خپلو خرما یي وښتانو کې داسې ښکته پورته ځغاولی لکه چې
څه تر هېدلی خاطرې او راز ونه راسپړي او دی وړسره د خپلو
ځوانیمرګه ارمانونو په اومړي تار زنګېږي .

خدای خبر چې څومره وخت به تېر شوی ژ چې د کوټې
دروازه ښه ټینګه شوه دالومړي ځل ژ چې زموږ له کوټې ایسټل
شوی بندي ښه ټینګه راستون شو . ورځ مانې څنګ ته کښاست

په سترګو سترګوکې

د ډیفنس کالونۍ کوزنۍ ارخ ته په پارک کې ماښام رنګین څراغونه ولګیږي چې هر څراغ په خپلو مخصوصو کړۍ شموځو- څو د وړلې ستر ګلونه وهي، دماشومانو د سانټري اولوبو د ول د ول وسایل په هواچورلی- په ځمکه هم دلوبو رنګارنګ ټیزونه هغوی خوښ او بوخت ساتي، پاک ستره ماشومان له خپلو پلرونو او میندو سره د پارک تر رنګینو څراغونو لاندې ناست وي او په لوبو او خوښیو کې ډوب.

په همدغه ماښام د پارک پای ته شپږ و سرلوڅو او ښځې یبله ماشومانو له سرونو او ښو د خسو پندو وکې وغوڅل او ډډې ساوې یې راکښلې، ستر ګې یې یوځل پټې خوبیا ژر پرانستلې- یو واریې په کرکجن خونافذ نظر پارک او هغو ماشومانو ته ژور او بې رحمۍ وکتل او بیا یې ځان خپلو- پښتو او یوبل ته- لکه چې په سترګو سترګوکې یې یوله بل

سره خبرې کړې وي او په مطلب ښه سره پوه شوی وي
د هغوی په لمر سویو او معصومو تندیو د ژوند د سختیو
او درد و نو بې وخته لیکې سره را ټولې شوی په زړونو کې
به یې ضرور د پرځه ګرځېدلی وي خو په کور او جنوځېږو
یې هېڅ دول منفي اغیزې نه برېښېدې خپلو پېښو ته یې
د دې وو هلې او په ویر آسمان کې یې ستر کې ښکې کړې خو
هلته هم لکه د پارک د څراغونو ستر و ستر ګونه وهلا لکه
چې هغوی هم د دوی پر بېې وسئ ، محرومې او مجبورې خاندې
ژړا پاڅېدل پېښې یې پورته کړل او په یوه لیکه یې د کمپ
په لور د کړ و نو او سر پر کیو لار و نیوه .

داسې ښکارېده چې له دغو ماشومانو د لوبو شوق او د -
ساتېرۍ او آرامۍ احساس او د خوشالۍ اسره له یوې مخې چالو تلی او
د دوی په کوکل کې د لوبو او هوسونو زړه هډو وی نه .

دوی حالا تویل و ړ کړ حولی - د انقلاب په کوڅو کې د د ر د و نو او
ستونزو لمبو داسې یاخه ګړیدی لکه چې د سره ماشومان وي نه -
د دغه ابدیده نسل په زړونو کې د انتقام د جذبو خوکلن هغوی د
مسو ولیت او احساس په معنا ښه پوهولی .

د دغه انقلابي تو کم د ځلانده مستقبل په هیله .

یادونه

په کومه کې ټول یووالس چې پرکتونه دی داچې روغتون ټولې څوکوټې لري او په نورو کوټو کې څومره چې پرکتونه دی ماته ندی معلوم .

زمونږ دکوټې دزخمیانو وضعه یوبل ته ډیره ورته ده هریو په سپین ململ یا کچ کې نغښتل شوی دامې بنکاري لکه چې په ژوندونی یې کفنونه ترلی وی. خینې خوله مړې نه څه چې ان له سره د پښو تر نوکو پورې پدغه دول سپینو ټوټو کې نغښتل شوی اویوله بل سره دومره ورته والی لري چې پېژندنه یې هم لږ څه دقت او پاملرنه غواړي .

لږ او ډېر توپیر ضرور لیدل کېږي خو پرکتونو د پرتو انسانانو پر بدنونو د سپینو ټوټو موجودیت دوی یوبل ته ډېر ډیره ورته کړیدی یوبل توپیر چې هغه له دقت وروسته محسوسېږي

او هغه د ځینو د لاس او پښو نشتوالی دی چې یا د دواکترانو چې
تر پای پورې کړیدی او یا مونږ او کولیو تر پای الوزولی وی

یوه بله مشترکه وجه د هغوی د پریکنده او مصمو څېړو
ورته والی او یووالی دی، د دومره سخت درد او کړاو چې فضا
سره سره د هیڅا په څېړه کې دستومانی، پښیمانی او د وه زړې
هېڅ د ول ځنبې نه لیدل کېږي. زه چې خپلو تېې اندیوالانو
او ببیا د خپلوانو د درد منو او نتلیو څېړو ته وګورم نو له ځانه او
ملګرو مې نړیات پر هغوی زړه وړ درد ېږي، داسې ښکاري چې له
زخمیانو پر هغوی د پر درد او کړاو تېر ېږي. د وړې ضرور
د زخمي یو یا څو تنه خپلوان او آشنایان راځي او ببرته د رومي
او دغه تګ راتګ او پوښتنه د آهونو- او تسلیت په څېړو کې
دوام پیدا کوي.

زمونږ شروند تقریباً یکنواخته تېرېږي - هره وړځ
تاکلی دارو کان دی او هماغه د و د ی او میوه او د خپلو خپلوانو
پوښتنه تګ راتګ او هماغه د همدردی او تسلیت مخصوص
او متحدالمال الفاظ.

زمونږ خپلوان او آشنایان هم معین کسان دی.

یو اړې د و شنبې وړځ زمونږ له پاره نوی او بېلونکی

ده داورځ دتپیانو دپانسمان ورځ ده - په دغه ورځ داکټر په
ببله ښه کوښتی ته راننوځي داسې ښکاري چې پردغه ورځ داکټر
د دې مصروفیت له مخې دومره وخت هم نلري چې دشفقت
او دادینې هغه پخوانی جملې تکرارکړي شي ـــ خوله اوپزه یې
ترلې وي هرزخمي ته دوه درې نرسان ودریږي لاندې
ورته ستر تشت کښېږدي اوبیا نرس ژر ژر زخمونه پرانیزي
یوساعت اوان یونیم ساعت په زخمونوکې د داکټر پښونه
اوچړې چلېږي ته به وایې چې هغه په زخمونوکې دننه ننوتلی
اوخپله ورکه لټوي، تشت له وینو او زوو ډک شي اوکله کله
دغوښې یوه پرسېدلی بوټی او د بدن کوم غړی هم دوینو
اوزوو پدغه تشت کې لامبو وهي، پدغه ورځ داکټر د
زخمی د وجود غوښې داسې پرې کوي لکه بهرچې دروغتون
دباغچې باغوان د ونو اوګلانو وچ ډکې اوشاخې پاڼې قیچي
کوي. ماته په دغو دوارو کې یو ژور ورته والی اوپیوستون
ښکارېږي.

زخیان په نوبت د داکټرچې ته بیول کېږي دروغتون
هواپدغه ورځ یوناماتوس بوی ښندي داکټراونرسان
ګرندی ګرندی لاسونه ښوروي یوپنس اخلي اوبل ږدي

یوه قیچي اوچاړه راواخلي او بله کښې دي نرسان د داکټر د ستر کو او وروځو اشاروته ګوري او په هدغو اشاراتو عمل کوي ؛ په دغه وخت داکټر هم د زړه سوی ورپښکاري هغه چې د هرزخمي له تېښو سره اپوړته کړي نو ستر کې يې داسې تکې سړې وي لکه چې د شپو شپږ بې خوبي ټپره کړې وي او پر تلوالی او حساس معلومېږي خو زخمي پروت وي په رهنو ستر ګو ګوري چې د وجود غوښې يې په ټپرو چړو پړې کښې او په بدن کې يې ټپرې چړې په ټپرې سره چلېږي خو دی اخ هم نه کوي .

اوبيا چې زخمونه نوی غوښتی راوړې داسې سخت بخار کوي چې له يوې سختې شکنجې او عذاب څخه هم سخت دردناک وي زخمونکی او د تپ له ټول درد او سوی څخه زهلوونکی وي . په دغه وخت کې داکټر او نرسان د پر عصبي او غوسه کېږي چې څوک زخمونه ونه کړي خو لږې ټولو سره هر زخمي په ګچ کې يوځه سوری کړې وي يا يې د ململ د پاسه نوکان ښخ کړې وي .

په دغه ټول وخت کې د زخميانو مصروفيت د د وی د جګړې کيسې ، خاطرې او يادونې دي هر يو د خپل جنګ او شهامت

خاطرې او د روسانو د نامردۍ یا دوښه په دومره مینه او وياړ سره
بیانوي لکه چې دا د دوښه او کرلوونه د هغوې په مقابل کې خو الښ
وي. هغوی د هرې خاطرې - هر یاد - هر پېښ، هرې ورځې او هرې
لمحې له خاطرو او یادونو د اسې خوښ، مست او ډاډه وي لکه چې
درد، زخم او ټول کرلوونه او بې قدرۍ یې هډو لیدلی نه وي.

د نخسې پيسې

پرتم ځای چې بسونه ودریږي نو هغوی لکه غشی پرې
راایله شي دکنډرو ځوری او د شربتو کیلاسونه پرلاس
هریو دبس یوه شیشه ونیسي او بیا په یوه دمه لګیا
شي: یخ کنډری - تازه کنډری - پاسته کنډری یوه یوه
روپۍ.

یخ شربت - خولۍ شربت - تازه شربت کیلاس اته آنې
دی هریو دسپرلی بې پروا ستر کوته ځیروی داسې لکه چې
دهغوی په ستر کو کې دځان په اړه څه لولي او مطالعه کوي.

سړي ته داسې برېښي چې دوی هریو دهر سړي
منتونه اوتنوازی کوي دخبرو انداز او بڼه یې له زړه پورې دې
معلومېږي خو په دومره توپیر چې سوال نه شي کېدی

کنی نو زه تعجب او خواری ته ول مظاهر څرګند وي.

نن چې د سپرلی له ترخم او زړه سوی څخه نهیلی شوی نو د بس د هیندارو تر څنګ یې دوه تنو بیوه ځغلنده مرکه پیل کړه.

یو: «زما پلار به هم ۳۹ کلن وی که ژوندی وی» او زما ستر ګو د خرخې پله د زنداني د وحشت او بربریت د هرې ترخې خاطرې او یادونې راخې ته شوله. مرکه خو نیه وه هغه هم غوښتل چې د خپلو غمونو او دردونو په سپرلو د زړه بار سپک کړي خو د بل موښتر په لار سبد ولکه چې د هغه په ذهن کې د هیرو مهمو خبرو او اندیښنو غږونو کړه وی تلوالی غوندی شوو د موښتر هیندارو ته یې په منډه منډه کې وویل: نن باید د خپې پیښې پیدا کړم.

پوښتنه

دلته نن زما د مزدوری پنځلسمه ورځ ده ، تیکدار دکار
د سامان آلاتو د ساتنې اوخارنې له پاره یو غوسه ناک بوډا
څوکیدار مقرر کړی چې ټوله ورځ یې له مزدورانو سره په
جنګ اوخولې تېرې ېې - ده ته د مزدورې په خوله دیوې
نیمې ټپې پرته هم کینه ورځې او داسې انګېرې چې
دټاټوبکو چلولو لاندې به دغه زمزمه کنی مزدرله کاره
باسي او مزدور د خپلې ستومانی او د ربړی د تسکین
لپاره له یوه نیم بیت او ټپې پرته د زمولې دلی او ډک زړه
دټکورا ودوک ایستلو لپاره لري څه ؟

یدغه ټېر عمر د څوکیدار ستر کې اوغوږونه داسې
فعال دی چې د ده د ضعیف بدن سره هېڅ د پرتلې نه دی۔

داضطراب او داد په اغږ لی لهجه یې وویل: ما وښرني ماځان نلکاړکړ: ته څه پوه شوی؟ دهغه څېرې پاته مې وکتل داسې ښکارېده لکه چې په زړه کې یې هېڅ شک نه وي پاته.

زه ستراوسه ونه پوهېدم چې ده څنګه داخبره ماته وکړه اوله ما څخه به یې دځه وړ ځواب تمه او توقع لرله.

ده لاخپله خبره نه وه پیل کړې چې پوځي بیا دروازه ټکوله کړه اوپته خوله یې له ځان سره روان کړ.

موږ د دغې معاملې ته داند ښنوله څېړنه لاس او ګریوان وُ ساعت ته مې چې وکتل دشپې دوو بجو ته یو ولس دقیقې پاتې وې. داځل دروازه په ډېر زور وټکوله شوه او چې موږ ستړکې وغړولې نو درب شو هغه یې دکوټې غولی ته راکوزادکړ. دخولې له دواړو وښکیو څخه یې ژوینو ندی لیکې روانې وې. کلابې څېره یې داسې ژېړه تښتېدلی وه لکه زعفران. موږ له هغه چاپېر کېناستو، خدای خبر چې د بې وسۍ انګېرنه وه اوکه دویرې او وارخطایی احساس چې زموږ د تدبیر په پښوکې یې نړولنې اچولی وې. دهغه ستړکې وغړېدلی دکېناستو څخه یې وکړه. ما ترې خپله غږ چاپېر کړه خوده پخپله دېوال ته تکیه وکړه. منګولی یې دخپل عادت

داسې سنګاري لکه چې دا هم زمونږ دګرولو له پاره وي
ټیکدار پدې کې هیڅ خبره نه کوي چې مزدورتاسکی په
اوبه چلوي او که پرسر خوخوکیدار داسې ندی هغه دا
د مزدور مکلفیت ګڼي چې تاسکی به حتماً پرسر وړي.
له مهاجرو مزدورانو سره د خوکیدار چلند نور هم تریخ
دی کله کله داسې هم وي چې په حایي مزدور د مهاجر
ګومان وکړي او په یوه دمه په نښه دار وخبرو ورته لګیا
شي- پر مزدورانو د کار له سختې څخه د خوکیدار د ذوق
او بد خلقي زغم د هرګران تمامیږي. تېری لاداچې د مزدور
د ملا په تړلو یې هم خوابدیږي، دی دا کار د هغه د -
تنبلی او کمزوری نخښه ګڼي او پنځه شپږ دقیقې پرې
ضرور خپله تبصره کوي.

* * *

نهو بجې د سهار څنګ د موټرونو د خرڅلاو کې بار کېږي
دی چې نوی ماډل ښایسته موټر پکې پلورل کېږي او
اخیستل کېږي- د موټرونو د غه بازار هم زمونږ پر مهاجرو
ګرم دی او د معاملې کسان یې هم په سلوکې (۸۰٪) هغه
بې کوره اوپر دې پس مهاجر دی. پدې منځ کې یو لکس او

اروپایي دوله رستوران هم شته چې مشتریان لکه د دغو
بارګینو ټول مهاجردی ؛ د دغه رستوران دخوږو خوراکونو
بوی دبوډا څوکیدارد بدخلقی په ځپرنمونو ختلی زړونه
راسولوي او تخنوی ؛ کله چې له رستوران څخه خلک د کې
خپتې اوغوږې شوندې راوځي نو مونږ ته په یو پټرخه
نظر له کتلو اوپه غږو او اکتو نو له تپرپدو سره زمونږ خولې
اوبه اوبه کږي.

زما له پاره د څوکیدار د خبرو او د رستوران د
خوږو خوراکونو بوی دغمازی تحمل څه گران ندی
شایي د نورو مزدورانو له پاره در دوونکی وي خو
خدای حاضر دی چې په مایې چندانی فرق نه پرېږدي.
دا ځکه چې زما د ځور او د رد له پاره د بړي نورې صحنې
هم شته چې د څوکیدار هسکې تېښتې را باندی سهلی
اوهېرولی شي.

دلته لږ اخوا د پښور د عصبي ناروغیو د مشهور
معالج د اکتر شفیق کتنځی هم دی - چې د مراجعینو گڼ
شمېر یې مهاجردی چې د نوبت په انتظار یې ټوله ورځ
دیوه د بوال سیوری ته د ډډه اچولی وي.

زه په دغه لږه فاصله کې د خپل وطن درد بسو مهاجر
درې ولې د هېرې نړۍ سره کورم چې همدغه یوورځ
سپرې ببکا کېږي یوه زمون مزدورانو - بله د دغو نخورانو
او د ریمه د بار کښونو او رستوران دانډیوالانو.

زه د اپنځلس ورځې د حُسینو نور و پېژندویو په څنګ
کې د خپل سنو ونځې د دوړې یوځوان ویښم چې په بارکښونو
کې کرځي راکرځي واخلي وپلوري او په رستوران کې ځان ډک
کړي.

زه په مزدورۍ نه شرمېږم او نه له ده سره
په مخامخ کېدو د کمتری احساس کوم خودی چې
ما تر دغو درنو وتاتکو لاندې په خپلو کې لوند خیشت
وګوري نو وغوړېږي له خپلو ملګرو سره پښه وښیي د موټر
کلی بند په خپلو کوتو بنکته او پورته ولوبوي او په خبرو ورته
لګیاشي - دی مانه خپلې پاکې او قیمتي جامې او واسکټ بنه
وښیي خپله دکه خبته، سپینې پښې او مروندونه، غوړه
او حُلنده ږیره مانه بنه وحُلوي موټر په مخ اوپه شاخوا او وغلوي
او وغلوي لوبیا د موټر له هنداري را باندې غږ کړي! آدم خانه!
څه حال دی څنګه یې؟

د ده دا پوښتنه لکه د پلټنې او تحقیق په ما ولګیږي که داسې وي نو زه دومره وایم چې پوښتنه باید له چا نه وشي ...؟

د احساس غږ

د اتو کلونو مخکې خبره ده - د اوو اتو کلونو ماشوم د خپل نیکه څنګ ته ناست دی خبرې یې د اسې ښکاري لکه چې د خاورو یوه نرۍ پرده پرې باندې غوړېدلی وي غمټي غمټي - عقابي سترګې یې د مخ په غټه کاسه کې له وراځلېږي .

وېرې او غوړېدلی تندي او پراخ تمتر یې د پولادي عزم څرګندوي کوي او د حادثاتو په وړاندې د هغه د مقابلې او زغم ترجمانی دستر کو له ځیرو او تېزو غږولو څخه یې د کسات او انتقام سپرمغی بادېږي او دیوې ستر ې هیلې او لږ او ارمان د لارې د انتظار ناکراره لمجي .

د روژې لومړۍ ورځ دی . زه یې له نیکه سره په یوه تاوده بحث بوخت یم - هغه زما د خبرو ترغوږ غوږ دی - ته به وایې

چې هره خبره په خپل کچ هیڅ تلې مشبتې او منفي خواوې
يې سره بېلوي او د خپل تحليل او تجزيې له مخې پايله او
نتيجه تر يې اخلي. نو ځکه يوه نيمه خبره به په هغه داسې
کښده لکه چې د معصومو احساساتو او سپېڅلو جذباتو په اوږې
پترول وشندل شي. ځکه د خپلو دغه ورځپاڼو ورځپاڼيزو عمل د
هغه په څېره کې جوړت ليده.

دروند ناست دی لکه چې د ماشوم تر وب شوخيو او
خوښيو نويې له سره مکدې کړې وي لکه چې هغه د واوتو کلونو
ماشوم نه وي بلکې د ستر امانت او مسوولیت يې پرا ودونو پروت
وي، او دی د هغه پوره احساس کوي، دومره چې نور يې هم
درکولی شي.

نيکه يې زما د ژوند کتلو په لړ کې هغه ته په مينه وکتل لکه
چې د هغه تر لې هيلې او اسرې د دغه ماشوم په څېره کې
وی د هغه د زړه مراندې ډډه له ژوند او راتلونکې سره تر لې
وی. پر سر يې ديوې ځپاندې مينې او مهربانۍ لاس راکاږه
او ماته يې وويل: ننې يې روژه ده - که سوهر څوورته وويل
خو يې نه منله تر لو پرې خپل وس وکړ خو په چاې مني،
غوسه مو هم ورته وکړه خو ده بله نه کړه.

د هغه خبرې لانه وې خلاصې چې ماله ماشوم سره پدې
اړه خپله مرکه پیل کړه خو هغه په لنډو وتکو کې داسې ځواب
راکړ چې سیاست، ادب او دیپلوماسۍ وړته وسله پرځمکه
ایښې وه هغه وویل: ستا خبره سمه ده زه پوهیږم چې په
ماروڅه نه کیږي خو زما پلار پروسږ کال په روڅه کې په
درې ورځنۍ سخت جنګ کې شهید شو غازیانو به حتماً
روڅه نه وی نیولی - زه سږ کال د هغه درې روڅې پوره کوم.
داحساس داغږ هیڅ ځواب نه درلود او د جذباتو د -
همدغو څو جملو په وړاندې د بحث او دلایلو هره لار ترلې وه.
دنیکه تندی یې وغوړید - سرې نورهم جګ شو
په سترګو کې یې دامیدونو او اسرو رڼا ګانو ځلکونه وکړل
زړه یې په سینه کې په توپو شو - په سترګو کې یې دخوشالۍ
داوښکو د یوې بلې شوې داسې لکه چې د هغه زهرولیدلی
ارمانونه غوړیدلی وی، وې ویل: ښه شوه تاته خوږې
داخبره وکړه موږ ته یې دا هیڅ نه وُ ویلی، زما باور نور
هم پرخ شو چې یوماشوم دومره احساس لري چې دخپل
پلار قضایې روڅې نیسي نو د هغه شهید توپک به هیڅکله
هم له دښمن څخه غلی نشي.

دا توپک د دښمن پر ضد چلن اوسپنې اوښپلی به
یې د دښمن د مرګ سندرې غږوي د توپک ماشې ته به
نوی ګوتې او کړېندته به نوی غاړې اوږه ورکوي .
او نن هغه اتکلن ماشوم خط اوبربت زلمی دی او د پلار
توپک یې په اوږه هغه سنګر ساتي د هغه امانت او
رسالت د ترسره کولو په لار کې .

زهرجنه خندا

هغه به هم وړځ ویا چې زده کړې به موټرپای ته رسېږي
د پرلیږې وایتن د پره کړاوجنه فاصله او د پرا وښد انتظار. هغه
فاصله او انتظار چې موږ له خپلو تولو ستونزو سره لیږي کړاونه؛
د ردونو او بدبختیو څخه د خلاصون او ژغورنې راز کانه؛ په دغه
وخت کې موږ څه څه تصمیمونه نیول. کرل او پېښل به مو؛ د
خیال دنیا به مو داسې رنګینه دنګه او حسینه جوړه کړه چې د وخت
معمار او انځور کړ به و رته لاس ترنې او کوته په غاښ وُ، زموږ د
تصور مارغه به پورې په پورې د ومره لوړ الوت پیل کړل چې د -
لامکان په وسعتونو کې به یې خپل وزرونه تېرول - آخر داځه
وړه خبره نه وه، پوره پنځلس ګنسپارس کاله مو دغه لارې
خاړلې - پدغه موده کې مو د پرې پرېکړې غوټه او بېټر کړې

د هیلو او ارمانونو د بر بوختی او نیالګی مو د مینې په اسره کښول او به کړل او د خپل خیال او تصور په هغه بې شانه او بې ایسونه شه دنیاګی کې مو د هغو مینې ته لاسونه اوږده کړل. خو دا دی هغه څه وشول چې موږ یې کړل ریبل - اونږ موږ دا میدونو لمر څرګ او دا انتظار خو بر منزل وُ، خو دا سې بې کیف او خونده، دا سې زهولو ونکی او ګرکجن چې موږ یې د هغه اوږده او ګرا وجن انتظار او د خیالونو او تصور د هغې رنګینې دنیاګی په جوړولو پښیمانه کولو.

اف داڅه دی دا مو د څه انتظار کاوه؟ داڅه ته هوسیدو؟ او په څه واوښتو؟ موږ څومره ساده وو، داڅه وشول.

✣ ✣ ✣

پوره یو کال کیده چې موږ د دفتر میز ته ناست و و خو دا میز او څوکی مو دا سې ګنلی لکه د خپلو پښونو ولنی - د دفتر کوټی را ته دا و رښکاریدی لکه یو وحشتناک زندان - موږ دا ګنله لکه چې په خوله موچا لاس ایښی وی - ستړکې موچا په توره ریتا ره ترلی وی - ارمانونو ته موچا او وریته کړی وی - هیلې او خواهشات موچا تر ستونی نیولی وی او د ژوند پر مړی موچا خونړی منګولې ښخې کړې وی.

نن هغه په شیوه کاغذ کې ستړکې تومبلی - زما د ښو ونځی

له مخې پخپلو پريشانه وينستانو کې پورته کش کړې - له موږ سره د پوښتنې خوله نه وه او داسې موکنله چې په هر څه خبرېږو او دا هر څه مو د سر په سترګو ويوړل نه څوځو واړه ليدلی دی.

په دهلېز کې د پيړه دارانو د بوټو نه له ترق تروق سره پوه شو چې قوماندان بيا خپلې دارې په چاکومول غواړي - زمونږ د کوټې دروازه د يوې سختې لغتې سره په دېوال ولګېده داسې چې غولی او دېوالونه ترې ولرزېدل او هغه لکه د وزې لپوه پراحمدشاه بابا د انکل له خولې يې ويوه بله خواځکونه - باد بدل - د هغه په وينستانو کې يې خپلې خونړې مينګولی ښنځې کړې داسې لکه چې د زندان له سمنټي دېوال سره د هغه د سر جنګولوا متحان اخلي - شپږ اوو پوځيان ترې چارپېره ولاړ وو له کانکرېټي دېوال سره د هغه د سر له هر وار جنګولو سره قوماندان د خپلو ځکونو په باران کې دا خبره تکرار وله «ښځې که نه» خو د احمدشاه خوله داسې چوپ وه لکه چې چاګنډلی وي، داسې چې د فرياد او اخ له پاره يې هم خوله نه چوله کېده هسې نه چې څه يې له خولې ونه وځي.

سره او له داسې لږو وونکو حماسو او حادثو سره چې یقیناً دهغو
ساري د نړۍ په تاریخ کښې د پرلږ مینډل کېږي.

خو زما قلم دومره کمزوری دی چې د دغو زړ کونو او
لکونو لږو وونکو پېښونه دیوځو په انځور نه کښې هم نا توانه
او پاتې راغلی دی ما ته چې څه ناوړه بنکاره شوی هغه مې
بدګمانی او غندنه مې پې کړی - هغه څه چې د ولس او خلکو په
تاوان او ضرر مې لیدلی دهغې په مخالفت کښې مې غږ پورته کړی
او دا غږ مې د دغه ورځنیو له لارې اوچت کړی او داسې مې چې
د خپل ولس هر درد، هر کړاو او هره ناخوالې لیدلی نو له خپلو
پې وسه او بنکو سره مې د قلم وینه غبرګه کړی او له دغه امتزاج
څخه د آهونو، ساندو او دردونو څخه ترڅه واقعیتونه پاتې
شویدی ځکه خو پدغو تیت پرک او خورو وړو خیالونو هیڅ نوم
نشم اېښودلی، که ادبپوهان ورته تکلونه وایي او که انشائیه
خوزه پې بیا هم د خپل محروم خو مقاوم، مظلوم خو سرلوړی
ولس پر سرنوشت د خپلو او پر دیو د نا کړدو او نا دود و، جفاګانو
او بې توجهیو څه ستنې او ترڅه یادونه بولم او ورسره د خپل
قهرمان ولس د حماسو او حادثو د توپانې ورځو یادګارونه.

داد داسې ورځو یادونه دي چې د سرلوړیو، فتحو،

قهرمانیو، حماسو اوکارنامو ترشا داوښکو، وینو اوږ، ویر
شهادتونو، زخمونو، قیامونو، غوږځنګو او درد ونو ډوبه
لړی او یو ناپایه بهیر له ځان سره لری - دهغو ورځو یادونه
چې احساس ژوبل اوجذبات زخمي دی، دهغو ورځو یادونه
چې دخپلو دجفاګانو، درقیبانو دناځوانیو اودښمنانو د
ظلمونو او دسیسو په تروښ میوکښې دیونیم ملیون شهیدانو
په وینو اوډکتهلی جنګ پراهدافو اوارمانونو دتجارت او
سودابازی سیلی ښې په زورکښې چلیږي اودانقلاب د -
عظمت اوجلال پروړاندې خطرناک سازشونه اوګډابښونه
روان دی چې داقتدار هوس اود ذاتي غرضونو جنون ورته
دشنو ځراغونو ستر ګلونه وهي.

داتیت پرک لیکې اوداماتې ګوډې کړښې وخت په وخت په
جهادي موقوته خپرونوکښې خپرې شویدی چې زه یې دچلوونکو
جرئت د داد ورښولم او اوس یې یوه وړوکې کیډی تري جوړه
شوی دجهادي څېړنومرکز په ځولۍ کښې یې دخپل مینې او
خلوص دیادګار په توګه بړدم هیله ده چې قبوله شي.

والسلام

نګیال

دا ورځې دا یادونه

ننګیال

PROPERTY
ADUC
Established
1989

دا ورځې دا یادونه

ننګیال

۱۳۶۹

داورځې دایادونه

لیکوال : ننګیال
خپرونکی : د افغانستان د جهادي څېړنو مرکز
خطاط : نورالدین هنریار
شمېر : ۱۰۰۰ ټوکه
نېټه : د ۱۳۶۹ لمریز کال وړۍ

بسمه تعالی

سریزه

دافغانستان دجهادي څېړنو مرکز په خپل پنځلسو ژوند کښې هیله درلودلې اوهڅه یې کړې چې د فرهنګي جهاد په ساحه کښې ګټور کاموونه اوچت کړي او په خپل محدود مسلکي پرسونل، محدودو مالي امکاناتو متنوع فرهنګي فعالیتونه ولري او دخپلو هېوادوالو په خدمت کښې وي.

په دې لړۍ کښې «قلم» مجله پرله پسې چلېدلې او دا دي خپل پنځم نشراتي کال شاته کوي، د مجلې تر څنګ د کتابونو چاپولو تاسیاهم شوې، «مړه یې مه بولئ ژوندی دي» (دوه ټوکه)، «شهید محمود» او «وینه په قلم کښې» کتابونه یې خپاره کړي، د دوو درېو غونډو په ترڅ کښې یې د انصار شاعر سناغلی عرفان ختک د «بارود او ایمان» او سناغلی ننګیال د «وینه په قلم کښې» - کتابونو مخکښې کړې او هیله لري چې خپل کارته دوام ورکړي او

هڅه کوي چې په خپلو کارونو کښې د کمیت او کیفیت له اړخه
بدلون او تحول راوستې ته کړي.

د افغانستان د جهادي خبرونو مرکز د دې رسالې په
خپرولو سره غواړي چې د خپلو کارونو په اړه نوې او د وړاندې لرې
پیل کړي او د «قلم» مجلې د ضمیمو په توګه د ورورسالو
د خپرولو اقدام وکړي.

«د ورځې دا یا دونه» د بناغلي ننګیال د جهادي ادبي لیکنو
یوه کوچنۍ مجموعه ده چې هنري، تصویري او تنقیدي اړخونه لري،
د لیکوال د قلم توره په دښمنانو باندې رحمانه ګوزارونه کوي خو دوستانو
له پاره یې د قلم نشتر د دوی له ړګونو نه د فاسدې وینې د ایستلو
په هڅه کښې دی او په دې توګه د ده د قلم ستر ګې د جهاد د تولو
ګوښو څارنه کوي او د جهاد د فرهنګي حریم ساتنه اوږاست.

موږ د قلم د ضمایمو لړۍ له همدې رسالې نه پیلوو او
هیله من یو چې د قلم د هرې ګډې ترڅنګ یوه - یوه کوچنۍ
رساله ستاسو لاسونو ته درورسوو.

ومن الله التوفیق

«اداره»

بسم الله الرحمن الرحيم

داکرنبې

هغه څه چې پدې پاڼو کښې لولئ زما د مظلوم خو قهرمان ولس دژوند د ښه بد ښه خو روونکو اړخونو هغه ټټ تصویرونه دی چې ما د خپل خیال پر هنداره په وینو او اوښکو کښلی دی .

دې ته زه نه افسانې وایم شم نه ادبي ټوټې او نه هم پرادبي معیار پوره لیکنې، بلکې یو اخې د افغان محروم خو مقاوم ولس د کړاوجن ژوند د زړګونو د رد وینو او ناخوالو څخه دیو ځو هغه نیمګړی انځور دی چې پس دغه قهرمان او مجاهد ولس د خپلو او پر دیولې لاسه راغلی او دیوه نارسا قلم څوکې ته سپارل شوی دی

له یوې لسیزې څخه په زهیاته موده کښې د هپواد د ننه او بهر د لیکوال هر پل له یوې حادثې سره جنګېږي له یوې زړه بوونکې واقعې سره ، له یوې ناخوالې او نا دودې سره ، له درد ونو او زکړو یو